دَ مولانا احمدعلی مردانی د اصحابِ رسول ﷺ
دَعظمت په موضوع لیکلی شوی سل (100) نظمونه

# تذکره دَ صحابه رض

## 100مشهورنظمونه

تصنیف

مولانا احمدعلی مردانی
( ساکن یونیورستی روډ خوره بانډه مردان )

بَیتُ السَّعد
خوره بانډه مردان پختونخوا پاکستان
0312-9818511

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمٰن الرحیم

دَ اصحابِ رسول ﷺ په شان کښې
لیکلی شوی سل ( 100 ) نظمونه

# تذکره دَ صحابهؓ

## سل (100) مشهور نظمونه

تصنیف

مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة العلوم الاسلامیه بنوریؒ ټاون کراچی

دَ ملاویدو پته

بَیۡتُ السَّعۡد
یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان
خیبرپختونخوا 0312-9818511





بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ
صَلَّى اللّٰهُ عَلَى النَّبِیِّ الۡاُمِّیِّ

..................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 01 ..........

مینه دَ اصحابؓ سره لازم ده هر بشر لره
دا دی رڼا ګاڼې دَ ژوندون هریو سحر لره
دوی سره بقاد دین ده ، دوی سره ښُکلا ددین
ټول دی رڼا ستوری، ورسره ده نُور رڼا ددین
مونږه رَسوی دا وسیله حسین دلبر ﷺ لره
مینه دَ اصحابؓ سره لازم ده هر بشر لره
مونږه پیژندلې دَتوحید سبق له دوی تمام
دا سبق زده کړې مونږ دَ عثمانؓ وعلیؓ تمام
راشه راشه نزدې صدیقؓ او عمرؓ لره
مینه دَ اصحابؓ سره لازم ده هر بشر لره
دوی نه مونږ زده کړے طریقه دَ پیغمبر ﷺ ټوله
نیغه رسیدلې ده جنت ته برابر ټوله
راشه په دې لاره باندې راشه پیغمبر ﷺ لره
مینه دَ اصحابؓ سره لازم ده هر بشر لره
مونږ دی پیژندلی احکامات ټول دَ اسلام له دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرخوار سیدلی احکامات ټول دَ اسلام له دوی
دَ سر سیوري دلته دَ نجات دے هریو سر لره
مینه دَ اصحابؓ سره لازم ده هر بشر لره
مونږ ته دا قرآن تمام اصحابوؓ رارسولے دے
مونږ ته حق بیان تمام اصحابوؓ رارسولے دے
نیغ رسوی مونږه خپل مولیٰ له ربِ اکبر لره
مینه دَ اصحابؓ سره لازم ده هر بشر لره
دَ هریو حدیث دَ پاره اهم واسطه ددوی
هریوه خبره ئې احمده! په دُنیا قوی
تا به رسوی مینه ددوی حوضِ کوثر لره
مینه دَ اصحابؓ سره لازم ده هر بشر لره

..............................................

# شان اصحابِ رسول ﷺ

## ...........منظوم کلام نمبر 02

شان دَ اصحاب دَ پیغمبر ﷺ اُوچت دے
شان دَ صدیقؓ شان دَ عمرؓ اُوچت دے
ډله اعلیٰ په دې جهان بره ده
ددوی رُتبه لکه اسمان بره ده
عثمانؓ سره علی حیدرؓ اُوچت دے
شان دَ اصحاب دَ پیغمبر ﷺ اُوچت دے





په نیغه لاره دَ رسول ﷺ دی روان
دغه یقین زمونږ دَ ټولو ایمان
هریو افسر هریو رهبر اُوچت دے
شان دَ اصحاب دَ پیغمبر ﷺ اُوچت دے
راضی له دوی نه دې مولیٰ زمونږه
دوستان دَ سیّدالوریٰ ﷺ زمونږه
هریو عظیم په لر او بر اُوچت دے
شان دَ اصحاب دَ پیغمبر ﷺ اُوچت دے
هریو کامیابه دے قرآن وئیلی
زمونږ محبوب زمونږ جانان ﷺ وئیلی
هریو بشر ښهٔ معتبر اُوچت دے
شان دَ اصحاب دَ پیغمبر ﷺ اُوچت دے
په هر میدان دَ پیغمبر ﷺ ملګری
په هر مکان دَ خوږ دلبر ﷺ ملګری
هریو قدم دَ دوی فکر اُوچت دے
شان دَ اصحاب دَ پیغمبر ﷺ اُوچت دے
غوره اعلا په ډلو ټولو کښې ده
خوشبو دَ دوی په یادوُلو کښې ده
ددوی هر سوچ هریو نظر اُوچت دے
شان دَ اصحاب دَ پیغمبر ﷺ اُوچت دے
احمد په دوی پسے روان دلته کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی مداح په هر مکان دلته کښې
دوی هر یاد هر یو ذکر اُوچت دے
شان دَ اصحاب دَ پیغمبر ﷺ اُوچت دے

.............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### .........منظوم کلام نمبر 03

دَ نبی ﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ
بره ستوری دَ اسمان دی صحابهؓ
اقتدا ددوی چې اُوکړے نو کامیاب ئې
لاثانی انسان به دلته په هر باب ئې
رناګانې په جهان دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ
شریعت پوره تمام ددوی سیرت کښې
نور سنت پوره تمام ددوی سیرت کښې
دَ نبی ﷺ ټول عاشقان دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ
کهٔ کلمه ده رارسولے راته دوی ده
حق جمله ده رارسولے راته دوی ده
دَ عزت ټول خاوندان دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ





بهترینه ئې اعلا ښهٔ زندګی ده
مثالی ئې په دُنیا کښې بندګی ده
رحمتونه ، عالیشان دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ
امامان په جمع ټول دَ خاص وعام دی
حدیثونه نقل کړی دوی تمام دی
کاتبان ټول دَ قران دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ
قران وائی جوړ ددوی په شان مؤمن شه
رحمٰن وائی جوړ دَ دوی په شان مؤمن شه
مثالی ټول مؤمنان دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ
دَ هر چا مشری وروستو اول دوی دی
دَ دُنیا مشری وروستو ، اول دوی دی
مشران خو مشران دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ
دَدوی قدر دَ اسلام قدر عزت دے
غوره غوره اُمتونو کښې امت دے
دَ شاهانو دا شاهان دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ
ضروری د دوی ادب او احترام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ احمدعلی پیغام پوره تمام دے
بُنیادونه دَ ایمان دی صحابهؓ
دَ نبیﷺ خواږهٔ یاران دی صحابهؓ

.................................................

# شان اصحابِ رسول ﷺ

..........منظوم کلام نمبر 04..........

دَ نبیﷺ خواږهٔ یاران
مال او سر لـه دوی قربان
دَ نبیﷺ خواږهٔ یاران
بره ستوری دَ اسمان
هر ادا ئې شریعت
ورسره کړه محبت
هر عمل ئې هدایت
حق پرست دا جماعت
حق پرسته عاشقان
دَ نبیﷺ خواږهٔ یاران
هر یو ښهٔ په نُور پوره
ښهٔ ئې لویه مرتبه
خوشبوداره ګلدسته
دَ خیر ښهٔ اعلا چینه





زما دین زما ایمان
دَ نبیﷺ خواږهٔ یاران
ژوندئي ټول ښکلا ښکلا
لاثانی ټول په تقویٰ
ژوندئي ټول رڼا رڼا
ټول زمونږه دی خیرخواه
حق زمونږه امامان
دَ نبیﷺ خواږهٔ یاران
خوښه دله دَ مولا
ګران دا ټول په مصطفیٰﷺ
معاف ئې هر یوه خطا
راضی دوی نه حق الله
ده رتبه اعلا ئې شان
دَ نبیﷺ خواږهٔ یاران
ښهٔ ئې ښکلي زندګی
اعلا ښکلي بندګی
دوی لیکلي هر وحی
کاتبان دی دَ نبیﷺ
دَ قران دی کاتبان
دَ نبیﷺ خواږهٔ یاران
دَ هر یو مقام اُوچت

(c) ketabton.com: The Digital Library



پت نۀ دے دا حقیقت
زیري دوی له دَ جنت
افضل غوره دا اُمت
دَ احمد تمام بیان
دَ نبی ﷺ خواږۀ یاران
دَشاهانو تېول شاهان
دَ نبی ﷺ خواږۀ یاران

.................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 05

اُوچت له هر پیغام نه دے پیغام دَ صحابه رض
منم دَانبیاء نه پس مقام دَ صحابه رض
پیغام ئي تېول دَ نُور دَ خپل آقا ﷺ راوړے مونږ له
کلام ئي د حضور ﷺ دَ مصطفیٰ ﷺ راوړے مونږ له
ددین تبلیغ وو کار سحر مابنام دَ صحابه رض
اُوچت له هر پیغام نه دے پیغام دَ صحابه رض
مقصد ئي وو ژوند چي دا قرآن اُورسی بل ته
مقصد ئي وو دَ ژوند چي حق بیان اُورسی بل ته
حصه دَ زندګی وه تل مدام دَ صحابه رض
اُوچت له هر پیغام نه دے پیغام دَ صحابه رض





پیغام ئي په دُنیا کښي تېول دَ امن علامت
پیغام ئي دے راوړے مونږ ته تېول دَ محبت
ګواه ددي خبري ژوند تمام دَ صحابه رض
اُوچت له هر پیغام نه دے پیغام دَ صحابه رض
اخلاص سره هر کار کوُلو دوی په هر قدم
اخلاص ته رسیدے نشی دُوی ته څوك په عالَم
کامل په هر صفت سره اسلام دَ صحابه رض
اُوچت له هر پیغام نه دے پیغام دَ صحابه رض
یاران دَ پاك نبی ﷺ په حضور ﷺ ګران دغه جمات
دوستان دَ مدنی ﷺ، په دین قربان دغه جمات
لازم په هر مؤمن دے احترام دَ صحابه رض
اُوچت له هر پیغام نه دے پیغام دَ صحابه رض
هریو احمده ! ښکلي سَم دَ ګل په شان حسین
هریو په خپل ګفتار سره اوچت اعلا شیرین
سَم لعل یا ملغلره هر کلام دَ صحابه رض
اُوچت له هر پیغام نه دے پیغام دَ صحابه رض

.................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 06

دَ صحابه رض مي ګلدسته خوښه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدام زمائي تذکره خوښه ده
ولې مي دا په هر حصه خوښه ده
مدام زمائي تذکره خوښه ده
هريو دَلوئي مقام دُنيا کښې مالك
هريو دَاحترام دُنيا کښې مالك
زما دَ دُوی هريو نامه خوښه ده
مدام زمائي تذکره خوښه ده
هريو دَ ګل په شان حسين دلته کښې
اعلا اعلا ښۀ بهترين دلته کښې
زما دَ ژوندئي هر صفحه خوښه ده
مدام زمائي تذکره خوښه ده
خواږه خواږه دی ټول ياران دَ نبی ﷺ
حقيقت وايم عاشقان دَ نبی ﷺ
زمائي هريو فيصله خوښه ده
ستوری دی ټول دَ پاس اسمان دلته کښې
ورسره ښکلي ټول جهان دلته کښې
زما ټوله دغه درنه خوښه ده
مدام زمائي تذکره خوښه ده
دَ جنت زيري په دُنيا لری دُوی
دَ عزت زيري په هر خوا لری دُوی
زمائي کور کلي کوڅه خوښه ده





مدام زمائي تذکره خوښه ده
دَ صحابه رض نه ، دَ نبی ﷺ نه زار شم
صديق رض ، عمررض ، عثمان رض ، علی نه زار شم
زما احمده ! دا رشته خوښه ده
مدام زمائي تذکره خوښه ده

..............................................

# شان اصحابِ رسول ﷺ

## ..........منظوم کلام نمبر 07

ګلونه په دُنيا کښې ښکلی صحابه رض
حسين دی چې هر چا دلته منلی صحابه رض
اصحاب دَ محمد ﷺ دی سم ګلونه دَ جهان
ورسره معطر دے هر طرف ته هر مکان
مقام ته ډير اُوچت بره ختلی صحابه رض
ګلونه په دُنيا کښې ښکلی صحابه رض
هريو ته ستوري وائی هر بشر دَ هدايت
هريو ته ستوري وائی په دُنيا کښې هر ساعت
داسې دی ، احاديث کۀ تاکتلی صحابه رض
ګلونه په دُنيا کښې ښکلی صحابه رض
راضی له دوی نه رب په هر طرف په هر قدم
راضی له دُوی نه ربّ پروديګار په ټول عالَم

ګواه ددي خبري کلی کلی صحابه رض
ګلونه په دُنیا کښي ښکلی ښکلي صحابه رض
احمده ! تهٔول دی ستوری منوَر دَ هدایت
احمده ! تهٔول دی ستوری منوَر دَ شریعت
هرچا چي په دُنیا دلته لیدلی صحابه رض
ګلونه په دُنیا کښي ښکلی ښکلي صحابه رض

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 08

صحابه رض چي څومره دی
عاشقان دی دَ نبی ﷺ
کهٔ صدیق رض دے کهٔ عمر رض
هریو ستوري منوَر
رڼاګانی دی دَ نمر
رڼاګاني دَ قمر
دَ عثمان رض سره علی رض
عاشقان دی دَ نبی ﷺ
دَ دُوی شان دے ډیر اُوچت
هر بیان دے ډیر اُوچت
هم ایمان دے ډیر اُوچت



(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند جهان دے ډیر اُوچت
دَ ولیانو دَ ګواهی
عاشقان دی دَ نبی ﷺ
تهٔول روان په حقه لار
سَم ئي لعل دے هر ګفتار
هر عمل ئي خوشبودار
دوی روان په نیغه لار
ښهٔ اعلا ئي ژوندګی
عاشقان دی دَ نبی ﷺ
مانیولي ئي لمن
مستقبل کښي، هم ده نن
زما خوښ ئي کور چمن
زما خوښ ئي پاك وطن
زهٔ احمد ئي مقتدی
عاشقان دی دَ نبی ﷺ

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 09

اُوچت له هر پیغام نه دے پیغام دَ صحابه رض
منم دَ انبیاء نه پس مقام دَ صحابه رض

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغام ئې ټول دَ نُور دَ خپل آقا ﷺ راوړے مونږ له
کلام ئې د حضور ﷺ دَ مصطفیٰ ﷺ راوړے مونږ له
د دین تبلیغ وو کار سحر ماښام دَ صحابه رض
اُوچت لـه هر پیغام نـه دے پیغام دَ صحابه رض
مقصد ئې وو ژوند چې دا قرآن اُورسی بل تـه
مقصد ئې وو دَ ژوند چې حق بیان اُورسی بل تـه
حصه دَ زندګی وه تل مدام دَ صحابه رض
اُوچت لـه هر پیغام نـه دے پیغام دَ صحابه رض
پیغام ئې پـه دُنیا کښې ټول دَ امن علامت
پیغام ئې دے راوړے مونږ تـه ټول دَ محبت
ګواه ددې خبرې ژوند تمام دَ صحابه رض
اُوچت لـه هر پیغام نـه دے پیغام دَ صحابه رض
اخلاص سره هر کار کړُلو دوی پـه هر قدم
اخلاص تـه رسیدے نشي دُوی تـه څوك پـه عالَم
کامل پـه هر صفت سره اسلام دَ صحابه رض
اُوچت لـه هر پیغام نـه دے پیغام دَ صحابه رض
یاران دَ پاك نبی ﷺ پـه حضور ﷺ ګران دغه جمات
دوستان دَ مدنی ﷺ، پـه دین قربان دغه جمات
لازم پـه هر مؤمن دے احترام دَ صحابه رض
اُوچت لـه هر پیغام نـه دے پیغام دَ صحابه رض
هریو احمده! ښکلي سَم دَ ګل پـه شان حسین





هریو پـه خپل ګفتار سره اوچت اعلا شیرین
سَم لعل یا ملغلره هر کلام دَ صحابه رض
اُوچت لـه هر پیغام نـه دے پیغام دَ صحابه رض

.................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### .......منظوم کلام نمبر 10 ..........

ګلدستو کښې ښکلي ده ګلدسته دَ صحابهؓ
تذکرو کښې ښکلي ده تذکره دَ صحابهؓ
پـه قرآن کښې ښـهٔ جار ....شته د دُوی ښکلي ګفتار
ذکر شته ئې بار بار .... مهٔ کوه لـه دوی انکار
پـه رشتو کښې ښکلي ده دا رشته دَ صحابهؓ
تذکرو کښې ښکلي ده تذکره دَ صحابهؓ
هر عمل ئې ښـه اُوچت ...یو حصه دَ شریعت
هر عمل ئې هدایت ...بهترین پـه هر صفت
دبدبو کښې ښکلي ده ..دبدبه دَ صحابهؓ
تذکرو کښې ښکلي ده تذکره دَ صحابهؓ
ربّ راضي دې لـه دُوی نـه ...شته اعلان دغه صفا
ربّ راضي دې لـه دوی نـه ....شته بیان دغه صفا
تبصرو کښې ښکلي ده ..تبصره دَ صحابهؓ
تذکرو کښې ښکلي ده تذکره دَ صحابهؓ

هريو ستوري دَ اسمان ...اے احمده ! په جهان
هريو ګل دَ ګلستان ...اے احمده ! دغه شان
په صدقو کښي ښکلي ده ..صدقه دَ صحابةؓ
تذکرو کښي ښکلي ده تذکره دَ صحابةؓ

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

..........منظوم کلام نمبر 11 ..........

چي صحابهؓ ستوري حسين نه پيژني
دوستان چي خوك دَربُّ العالمين نهٔ پيژني
دوستان چي دَ شفيعُ المذنبين ﷺ نه پيژني
نه منی آقا ﷺ هغه خپل دين نهٔ پيژني
نهٔ په اللّه نه په رسول ﷺ ئي ايمان
خوك چي لاره دَ شيطان شو روان
بيان ښکاره دے هغه سپين نه پيژني
دوستان چي دَ شفيعُ المذنبين ﷺ نه پيژني
نهٔ په قرآن باندي ايمان ئي شته دے
نه په رحمان باندي ايمان ئي شته دے
فرمان دَ پاك اللّه مبين نه پيژني
نه منی آقا ﷺ هغه خپل دين نهٔ پيژني
نهٔ ئي په مونځ نه په زکوٰة شته ايمان





نهٔ ئي په نورو عبادات شته ايمان
منكر له حق، بيان شيرين نه پيژني
نه منی آقا ﷺ هغه خپل دين نهٔ پيژني
كلمه آذان باندي ايمان نهٔ لري
په حق بيان باندي ايمان نهٔ لري
خوك چي مخلوق كښي بهترين نهٔ پيژني
نه منی آقا ﷺ هغه خپل دين نهٔ پيژني
دَ دوی منل هم اطاعت لازم دے
احمده ! هم تل محبت لازم دے
حكم دَ ربُّ العالمين نه پيژني
نه منی آقا ﷺ هغه خپل دين نهٔ پيژني

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

..........منظوم کلام نمبر 12 ..........

دَ صفت لائق حضور ﷺ نه پس اصحابؓ دی
هر صفت سره هر خواته لاجواب دی
هر صفت سره منمه دوی جُدا دی
هر صفت سره حسين دی ښهٔ بالا دی
بهترين په هر صفت په يو باب دی
دَ صفت لائق حضور ﷺ نه پس اصحابؓ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـم دوی ستـوری دَ اسـلام دَ شـريـعـت دی
سـم ګـلـونـه تـږول دَ مـيـنـي مـحـبـت دی
دعـا ګـانـي ئـي هـرخـواتـه مستـجـاب دی
دَ صـفـت لائق حضور ﷺ نـه پـس اصحابؓ دی
هـر صـفـت ورسره ښـکـلي خـائسته ښکارېږی
شـريـعـت ورسـره ښـکـلي خائستـهٔ ښـکارېږی
دَ اسـلام پـه مـيـنـه تـږول پـوره سيـراب دی
دَ صـفـت لائق حضور ﷺ نـه پـس اصحابؓ دی
هـر قـدم ئـي دَ رښـا پـه لاره ايـښـي
هـر قـدم ئـي دَ آقـا ﷺ پـه لاره ايـښـي
ښـه خبـرېـوهـه پـه دغـي حـق کتـاب دی
دَ صـفـت لائق حضور ﷺ نـه پـس اصحابؓ دی
داسـي نيشتـه يـو جـمـات پـه دې جهـان کښـي
نـهٔ دَ قـدر بـل ځـوك شتـه پـه يو مـکـان کښـي
تـږول لـعـلـونـه دَ حـضـور ﷺ دَ در نـايـاب دی
دَ صـفـت لائق حضور ﷺ نـه پـس اصحابؓ دی
بهتـريـنـه زنـدګـی ئـي ده احـمـده !
دَ حـضـور ﷺ سـره دُوستـی ئـي ده احـمـده !
ګيـر چـاپيـره رښـا ستـوری دَ مهتـاب دی
دَ صـفـت لائق حضور ﷺ نـه پـس اصحابؓ دی

..........................................................





# شان اصحابِ رسول ﷺ

## ..........منظوم کلام نمبر 13 ..........

لاثانی پـه هـر صـفـت ، دَ حـضـور ﷺ تـږول صحابهٌ
مقام ډېـر لـری اُوچت ، دَ حضور ﷺ تـږول صحابهٌ
تـږول ګـلـونـه دَ آقـا ﷺ خـوشبـودار دَ هـر مـحـل
سَـم لـعـلـونـه دَ آقـا ﷺ دَ هـردار دَ هـر مـحـل
دا مـنـمـه حقيقت ، دَ حـضـور ﷺ تـږول صحابهٌ
لاثانی پـه هـر صـفـت ، دَ حـضـور ﷺ تـږول صحابهٌ
هـريـو ښـه پـوره ديـنـدار دا دُنيـا پـه دې ګـواه
دَ حـضـور ﷺ تـږول وفـادار دا دُنيـا پـه دې ګـواه
ژوند ئي نوم دَ مـحـبـت، دَ حـضـور ﷺ تـږول صحابهٌ
لاثانی پـه هـر صـفـت ، دَ حـضـور ﷺ تـږول صحابهٌ
هـر عـمـل کښـي دَ حـضـور ﷺ پيـروکـار پـه لـر او بـر
رښـا ګـانـي پـه دُنيـا دَ دُنيـا دَ هـر سـحـر
مستـحـق دَ هـر عـزت دَ حـضـور ﷺ تـږول صحابهٌ
لاثانی پـه هـر صـفـت ، دَ حـضـور ﷺ تـږول صحابهٌ
وسيـلـه زمـونـږ دَ ديـن دَ بـقـا پـه دې جهـان
اے احـمـده ! ستـا تـحـريـر ستـا دے حق دغـه بيـان
مستـحـق دَ هـر جـنـت دَ حـضـور ﷺ تـږول صحابهٌ
لاثانی پـه هـر صـفـت ، دَ حـضـور ﷺ تـږول صحابهٌ

(c) ketabton.com: The Digital Library



................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 14..........

بره ستوری دَ اسمان صحابهٌ صحابهٌ
دَرسول الله ﷺ دوستان صحابهٌ صحابهٌ
صديقٌ نه لری ثانی صداقت کښي په جهان
عمرٌ نه لری ثانی عدالت کښي په جهان
عاليشان دی عاليشان صحابهٌ صحابهٌ
بره ستوری دَ اسمان صحابهٌ صحابهٌ
دَ عثمانٌ مقام اُوچت بره بره له اسمانه
دَ علیٌ مقام اُوچت ځان خبر کړه مسلمانه
عقيده لرم ايمان صحابهٌ صحابهٌ
بره ستوری دَ اسمان صحابهٌ صحابهٌ
په يو ادا حسين هر طرف ته په جهان
بهترين دی بهترين هر طرف ته په جهان
خوشبوی دَ هر مکان صحابهٌ صحابهٌ
بره ستوری دَ اسمان صحابهٌ صحابهٌ
مدح خوان يمه ددوی زهٔ احمدعلی مدام
کائنات لره هر يو رهنما دَ خاص او عام
قدردان دی قدردان صحابهٌ صحابهٌ





بره ستوری دَ اسمان صحابهٌ صحابهٌ

................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 15..........

بهترين اعلا اعلا صحابهٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
دَ هر چا پوره خير خوا صحابهٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
کائنات په دي ګواه ، هم عرب دے هم عجم
حقيقت دغه بيان ، دا منلم ټول عالَم
حق د دين رڼا رڼا صحابهٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
بهترين اعلا اعلا صحابهٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
رب له دوی پوره راضی ، هم راضی له دوی نه رب
خوشحاليږی رب مولا چي دَ دوی کوے ادب
هر بشر له مقتدا صحابهٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
بهترين اعلا اعلا صحابهٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
دوی دی ټول پوره کامياب ، هر عمل ئي لاجواب
عاشقان دَ حق کتاب ، طلبګار دَ هر ثواب
دَ جنت کړے سودا صحابهٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
بهترين اعلا اعلا صحابهٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
هر يو دوی کښي وفادار هم ريښتوني په جهان
محافظ دحق بيان ، مخالف دَ هر شيطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولیاء دی علماء صحابهٔ دَ مصطفیٰ ﷺ
بهترین اعلا اعلا صحابهٔ دَ مصطفیٰ ﷺ
وسیله دَ هریو خیر، د دُنیا په هر مقام
ذریعه دَ هریو خیر اے احمده! تل مدام
لاثانی په هر ادا صحابهٔ دَ مصطفیٰ ﷺ
بهترین اعلا اعلا صحابهٔ دَ مصطفیٰ ﷺ

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 16

نیشته ئي ثانی په یو طرف اُوسي گواه
واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه
ستوری دَ اسمان دَ کائنات ښکلي گلونه دی
ورسره حسین دَ مصطفیٰ ټول محفلونه دی
ژوند کښي عاجزی لری هرخواته په دُنیا
واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه
دغه صحابهٔ دی دَ پاك حضور ﷺ سره ئي مینه وه
ډك له غیرت نه ئي دتن دَ وجود وینه وه
هریو دغیرت علامت، هریو ښه اعلا
واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه
دغه صحابهٔ دی چي په دین باندي قربان وو





هر طرف ته حق سره ملگری په جهان وو
ټول سیرت ئي اُوگوره گواه دے دَ وفا
واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه
پاك رسول اللّه ﷺ سره ملگری په ریښتیا وو
خوښ ځکه مولا ته هرطرف ته په دُنیا وو
ځکه خو خوښ کړی ټول دوستي له مصطفیٰ ﷺ
واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه
دغه صحابهٔ ټول دَ اسلام محافظان وو
څنگ چي محافظ احمده! ټول دَ حق قرآن وو
سمه ملغلره دَ جهان ئي هر ادا
واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه صحابهٔ واه

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 17

دَ حضور ﷺ ښکلی یاران صحابهٔ دی صحابهٔ
سم گلونه دَ جهان صحابهٔ دی صحابهٔ
هریو نوم دے دَ عظمت، هریونوم دَ محبت
هریو نور دَ شریعت، رهنما دَ ټول دَ اُمت
په حضور ﷺ پسے روان صحابهٔ دی صحابهٔ
دَ حضور ﷺ ښکلی یاران صحابهٔ دی صحابهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند ئي ټول وفا وفا ، ژوند ئي ټول حُسن ښکلا
ژوند ئي ټول حيا حيا ، دا جهان ئي دے گواه
نرم خويه مهربان صحابهؓ دی صحابهؓ
دَ حضور ﷺ ښکلی ياران صحابهؓ دی صحابهؓ
محافظ دَ شريعت ، هريو دُوی کښې دَ اُمت
محافظ دَ شريعت ، هريو دُوی کښې هرساعت
محافظ هم دَ قرآن صحابهؓ دی صحابهؓ
دَ حضور ﷺ ښکلی ياران صحابهؓ دی صحابهؓ
زهٔ احمد ئې مدح خوان ، تل کوُم ئې احترام
بُنيادونو له بُنياد هر طرف ته دَ اسلام
ترجمان دَ حق بيان صحابهؓ دی صحابهؓ
دَ حضور ﷺ ښکلی ياران صحابهؓ دی صحابهؓ

..................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 18

لاثانی په هر مقام صحابهؓ صحابهؓ
ډير اوچت دی خاص او عام صحابهؓ صحابهؓ
هريو دُوی پسے روان طلبگار دَ هدايت
هريو دُوی پسے روان طلبگار دَ سعادت
بُنيادونه دَ اسلام صحابهؓ صحابهؓ





لاثانی په هر مقام صحابهؓ صحابهؓ
هريو نوررڼا ددين بره ستوری دَ اسمان
هريو نور رڼا د دين بره ستوری دَ جهان
رڼاگانې دی تمام صحابهؓ صحابهؓ
لاثانی په هر مقام صحابهؓ صحابهؓ
خوشبوئی دَ هر چمن دَ حضور دَ هر محفل
خوشبوئی دَ هر وطن دَ حضور ﷺ ملگری تل
زمونږ زړونو کښې مدام صحابهؓ صحابهؓ
لاثانی په هر مقام صحابهؓ صحابهؓ
په کردار سره اُوچت اے احمده ! برابر
په گفتار سره اُوچت په هر خوا په لر او بر
نامه ټول له دَ آرام صحابهؓ صحابهؓ
لاثانی په هر مقام صحابهؓ صحابهؓ

..................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 19

ډير خواږه ښکلی ياران زمونږ خوښ دی صحابهؓ
دَ نبی ﷺ په لار روان زمونږ خوښ دی صحابهؓ
هريو مينه محبت ، اُولوله دَ دوی سيرت
ډير مقام لری اُوچت ، دا عظيم لری صفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښ دَ ربّ غنی سبحان زمونږ خوښ دی صحابهؓ
ډېر خواږه ښکلی یاران زمونږ خوښ دی صحابهؓ
هریو هرخواته امام دَ اسلام دَ شریعت
هریو هرخواته تمام نُور رڼا دَ هدایت
عاشقان ټول دَ قرآن زمونږ خوښ دی صحابهؓ
ډېر خواږه ښکلی یاران زمونږ خوښ دی صحابهؓ
ورسره مینه لازم دلته کښې په هر بشر
هریو ستوری دَ اسلام دَ حضور دَ پیغمبر ﷺ
دَ الله کرم احسان زمونږ خوښ دی صحابهؓ
ډېر خواږه ښکلی یاران زمونږ خوښ دی صحابهؓ
ستا احمده! رهبران دَ اسلام دَ شریعت
ورسره به وی مدام ستا په زړه کښې محبت
حق دے ټول دغه بیان زمونږ خوښ دی صحابهؓ
ډېر خواږه ښکلی یاران زمونږ خوښ دی صحابهؓ

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

## ..........منظوم کلام نمبر 20

ښکلي په کردار سره په هر صفت اعلا
واه صحابهؓ واه ، واه صحابهؓ واه
بُغض اوله کیني نه لرے لرے په جهان وو





داسي په دُنیا کښې دَ رسول الله ﷺ یاران وو
سمه له کینه ئې خوږه پسته وینا
واه صحابهؓ واه ، واه صحابهؓ واه
بدر په اُحد کښې دَ حضور ﷺ سره ولاړ وو
هرطرف ته ګوره دَ حق نور سره ولاړ وو
یو ځائې هم له حق نه وروستو نه شول دوی په شا
واه صحابهؓ واه ، واه صحابهؓ واه
فاتح خیبر دی هم دوی فاتح مکه دی
هرځائې کښې شیطان ته مخامخ په هر حصه دی
دغه دَ صحبت اثر وو ټول دَ مصطفیٰ ﷺ
واه صحابهؓ واه ، واه صحابهؓ واه
هم ئې دَ خندق سخته دُنیا کښې برداشت کړے
هرطرف ته بوج ئې دَ خپل وروُر مسلمان وړے
هرځائې کښې په ژبه ئې وینا پرته ریښتیا
واه صحابهؓ واه ، واه صحابهؓ واه
غوره جماعت دَ محمد رسول الله دے
غوره اے احمده! هر صفت سره بالا دے
هریوې خطا نه ټول په تن وجود صفا
واه صحابهؓ واه ، واه صحابهؓ واه

..............................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شان اصحابِ رسول ﷺ

## منظوم كلام نمبر 21 ...........

دَ حضور ﷺ ياران صحابهؓ زنده باد
ستوري دَ اسمان صحابهؓ زنده باد
ربِ دَ خپل رضا اعلان په جار كوي
دي حق بيان ښكلي اظهار كوي
وائي دا قرآن صحابهؓ زنده باد
دَ حضور ﷺ ياران صحابهؓ زنده باد
وائي دا قرآن چي دوي كامياب دي ټول
عاشقان دغي حق كتاب دي ټول
ښكلي انسانان صحابهؓ زنده باد
دَ حضور ﷺ ياران صحابهؓ زنده باد
دوي سره وعده دَ جنت دلته
دوي سره وعده دَ هر نعمت دلته
دغه ټول شاهان صحابهؓ زنده باد
دَ حضور ﷺ ياران صحابهؓ زنده باد
ربِ نه دُوي راضي داسي قرآن وائي
داسي په قرآن كښي پاك سبحان وائي
داسي عاليشان صحابهؓ زنده باد
دَ حضور ﷺ ياران صحابهؓ زنده باد





دَ اخلاص ئي نيشته څوك ثاني دلته
داسي ئي احمده ! زندگي دلته
داسي قدردان صحابهؓ زنده باد
دَ حضور ﷺ ياران صحابهؓ زنده باد

.......................................................

# شان اصحابِ رسول ﷺ

## منظوم كلام نمبر 22 ..........

بره ستوري دَ اسمان زنده باد صحابهؓ
دا يقين ساتم ايمان زنده باد صحابهؓ
هريو ښه پوره كامل .. دَ اسلام په نور رڼا
هريو ښه پوره كامل ... په حسن او په ښكلا
دا به مني به ټول جهان ، زنده باد صحابهؓ
بره ستوري دَ اسمان زنده باد صحابهؓ
مؤمنان كامله ټول رهبران كامله ټول
امامان كامله ټول ، عالمان كامله ټول
دَ نبي ﷺ خواږه ياران ، زنده باد صحابهؓ
بره ستوري دَ اسمان زنده باد صحابهؓ
په قران باندي مئين ، حق بيان باندي مئين
ربِ رحمان باندي مئين ، حق سلطان ﷺ باندي مئين
داسي ښكلي انسانان ، زنده باد صحابهؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بره ستوری دَ اسمان زنده باد صحابهؓ

وروروِلی ئې مثالی د دُنیا په هر قدم

دا منلی تول جهان دا منلی تول عالَم

مهربان وو مهربان ، زنده باد صحابهؓ

بره ستوری دَ اسمان زنده باد صحابهؓ

دَ ائیار یو نمونه داسې نیشته په جهان

دَ کردار یو نمونه داسې نیشته په جهان

داسې تول وو عالیشان ، زنده باد صحابهؓ

بره ستوری دَ اسمان زنده باد صحابهؓ

عاشقان دَ پیغمبر ﷺ تول په عشق کښې لاثانی

بهترین ئې زندگی ، اے احمده! بندگی

جنتان تول جنتیان ، زنده باد صحابهؓ

بره ستوری دَ اسمان زنده باد صحابهؓ

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 23

داچې یاران دی دَ آقا ﷺ زما

خوښ دی په هر خوازما ، خوښ دی په هر خوازما

سم دی ګلونه دلته ، سم دی لعلونه دلته

هریو دې پیشوا زما ، هریو مقتدا زما





خوښ دی په هر خوازما ، خوښ دی په هر خوازما

مولا راضی له دوی نه ، آقا ﷺ راضی له دوی نه

دَ ژوندون رڼا زما ، دَ ژوندون ښکلا زما

خوښ دی په هر خوازما ، خوښ دی په هر خوازما

دوی دَ اللّٰه نه راضی ، دَ خپل آقا ﷺ نه راضی

خوښ دی په وفا زما ، خوښ په هر ادا زما

خوښ دی په هر خوازما ، خوښ دی په هر خوازما

دا ده کامیابه ډله ، ده لاجوابه ډله

حق وینا رښتیا زما ، حق وینا صفا زما

خوښ دی په هر خوازما ، خوښ دی په هر خوازما

احمد دَ دوی په لاره ، دَ خپل نجات دَ پاره

دَ ګټې سودا زما ، هر خوا په دُنیا زما

خوښ دی په هر خوازما ، خوښ دی په هر خوازما

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 24

دا چې صحابهؓ دی تول ګلونه دی

ورسره حسین تول محفلونه دی

واړه رهبران دَ تول عالم دی

واړه امامان دَ تول عالَم دی

کم دی، چي دا څومره صفتونه دی
دا چي صحابهؓ دی ټول گلونه دی
بره رڼا ستوری دَ آسمان دی
ستوری دَ اسلام په دي جهان دی
نقل له دوی نه ټول حدیثونه دی
دا چي صحابهؓ دی ټول گلونه دی
دوی دَ حق کتاب محافظان دی
ټول دَ مصطفیٰ خواږه یاران دی
ښکلي ئي اعلا ټول عادتونه دی
دا چي صحابهؓ دی ټول گلونه دی
زیرے دَ جنت ورلره دلته کښي
زیرے دَ عزت ورلره دلته کښي
دوی لره محشر کښي محلونه دی
دا چي صحابهؓ دی ټول گلونه دی
مونږ ته رارسولے دوی کلمه دَ دین
دوی رانقل کړے هر حصه ددین
داسي دَ اسلام ټول بُنیادونه دی
دا چي صحابهؓ دی ټول گلونه دی
رب راضي له دوی نه دا صفت لری
زړونو کښي احمده! محبت لری
ډیر دَ دوی باره کښي آیاتونه دی



(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چي صحابهؓ دی ټول گلونه دی

..................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

........منظوم کلام نمبر 25..........

دا چي صحابهؓ دی دَ دین ستوری دی
ټول دَ دین اسلام ډیر حسین ستوری دی
هر محل په دوی سره رڼا دلته
هر محل په دوی سره اعلا دلته
ټول دَ هدایت بهترین ستوری دی
دا چي صحابهؓ دی دَ دین ستوری دی
ورسره هر ښار ددي جهان رڼا
ورسره دا ز مکه پاس آسمان رڼا
دا مي عقیده په یقین ستوری دی
دا چي صحابهؓ دی دَ دین ستوری دی
دوی سره تیرے دُنیا نه تلے دی
دوی سره تیرے هر خوا نه تلے دی
هریو بهترین په جبین ستوری دی
دا چي صحابهؓ دی دَ دین ستوری دی
ماله رڼا گاني دوی راوړے دی
تاله رڼا گاني دوی راوړے دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي دَ اسمان دَ زمين ستوري دي
دا چې صحابهؓ دي دَدين ستوري دي
دغه مې ايمان دا عقيده لرم
بيان دا احمده ! په سينه لرم
په حضور ﷺ فدا دي مئين ستوري دي
دا چې صحابهؓ دي دَدين ستوري دي

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### منظوم كلام نمبر 26..........

اعلا اعلا هر خواته خير الامم ؓ صحابهؓ
تسكين دَ زړونو ټولو منم منم صحابهؓ
كامياب په هر طرف دي دَ پاك نبي ﷺ ياران
كامياب په هر طرف دي كامل دي په ايمان
فخر عرب دي ټول فخرِ عجم صحابهؓ
اعلا اعلا هر خواته خير الامم ؓ صحابهؓ
اثيار ئي لاثاني دے ، گفتار ئي لاثاني هم
كردار ئي لاثاني دے ، گلزار ئي لاثاني هم
وجود ئي ټوله مينه ، په تن كرم صحابهؓ
اعلا اعلا هر خواته خير الامم ؓ صحابهؓ
اعلا هريو صفت ئي اغيار لره سخت دي





اعلا هريو صفت ئي كفارو لره سخت دي
په خپلو كښې مدام دي نرم نرم صحابهؓ
اعلا اعلا هر خواته خير الامم ؓ صحابهؓ
اعلا په هر صفت دي محكم په عقيده دي
خوشبو خوشبو هر خواته موجود په هر حصه دي
ياران قوي دُنيا كښې مُحكم مُحكم صحابهؓ
اعلا اعلا هر خواته خير الامم ؓ صحابهؓ
احمده ! هر طرف ته محكم شرين كلام دي
كامل په هدايت دي ټول ستوري دَ اسلام دي
بدلون پوره راوستي قدم قدم صحابهؓ
اعلا اعلا هر خواته خير الامم ؓ صحابهؓ

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### منظوم كلام نمبر 27..........

گلونه ښكلي ښكلي دَ جانان ﷺ صحابهؓ
يا ستوري دي رڼا دَ پاس اسمان صحابهؓ
كامله هر بشر له دوي نه وو په دين ايمان
خير خواه په هر طرف وو دَ مؤمن او مسلمان
ولاړ وو هر طرف ته دُوي باطل ته په ميدان
ملگري هميشه وو دَ نبي اخرزمان ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ زړونـو تـولـو دلتـه کښـې شـاهـان صـحـابـهؓ
ګلونـه ښـکـلـی دَ جـانـان ﷺ صحابهؓ
سـخـيـان وو عـادلان زمـکـه اسمـان پـه دي ګواه
مـکـه او مـديـنـه کښې هـر مـکـان پـه دي ګواه
ذره ذره هـر خـوا دَ هـر ميـدان پـه دي ګـواه
کـاميـاب دی تـول اعـلا دغـه قرآن پـه دي ګواه
ددين دَ حـفـاظـت مـحـافـظـان صـحـابـهؓ
ګلونـه ښـکـلـی دَ جـانـان ﷺ صحابهؓ
هـريـو لـره ورکـړے دے مـقـام مـولا اُوچـت
زيـرے ورلـه راغـلـے پـه دُنيـا کښـې دَ جـنـت
هـريـو نـه اعـلان کـړے دَ رضـا ربُ الـعـزت
غـوره پـه اُمتـونـو کښـې دے دغـه تول اُمـت
خوښ نـه دی صـرف صـرف دَ شيـطـان ، صحابه
ګلونـه ښـکـلـی دَ جـانـان ﷺ صحابهؓ
سيـرت دے دَ صـديـقؓ ښـه مثـالـی پـه هر قدم
مـنـلـم عـدالـت دے دَ عـمـرؓ پـوره عـالـم
مـنـلـم سـخـاوت دے دَ عثـمـانؓ عـرب عـجم
مـنـلـم شـجـاعـت دے دَ عـلـی هـريـو آدم
حـصـه ده لازمـی دَ هـر ايـمـان صـحـابـهؓ
ګلونـه ښـکـلـی دَ جـانـان ﷺ صحابهؓ
تيـرے ورسـره لاړے لـه دُنيـا نـه دَ ظـلـمـت





ددين سـره ئـې مينـه وه هـر خواتـه هرسـاعـت
کـوُلـو ئـې مـدام تبـليـغ دَ ديـن دَ شـريـعـت
احـمـده ! هـر بيـان ئـې وو دُنيـا کښـې حقيـقـت
داسـې وو قـدر مـنـده عـاليشـان صـحـابـهؓ
ګلونـه ښـکـلـی دَ جـانـان ﷺ صحابهؓ

..................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 28 ..........

خـوشبـو دَ هـر چـمـن پـه هـر مقـام صـحـابـهؓ
دُنيـا کښـې رهـنـمـا دَ خـاص او عـام صـحـابـهؓ
اغيـار ئـې هـم دَ عـدل پـه هـر خوا دلتـه قـائـل
کـفـار ئـې هـم دَ عـدل پـه دُنيـا دلتـه قـائـل
پيـغـام دَ مينـې تـول پـه هـر اندام صـحـابـهؓ
خـوشبـو دَ هـر چـمـن پـه هـر مقـام صـحـابـهؓ
ګـواه ئـې مـديـنـه دَ عـدالـت ده پـه دُنيـا
ګـواه ئـې مـديـنـه دَ شـرافـت ده پـه دُنيـا
کـامـل پـه هـر صـفـت سـره تمـام صـحـابـهؓ
خـوشبـو دَ هـر چـمـن پـه هـر مقـام صـحـابـهؓ
جهـنـدا ئـې دَ اسـلام هـر خوا نيـولـے وه اُوچتـه
دُنيـا کښـې دَ اسـلام جهـنـډا دَ دُوی نـه نه شوه خکته

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي محافظان وو دَ اسلام صحابهؓ
خوشبو دَ هر چمن په هر مقام صحابهؓ
سلام زما احمده! ورته تل په دي عالم
لقب ئي په القابو کښي اُمت خیر الامم
داسي عظیمه ډله ده مدام صحابهؓ
خوشبو دَ هر چمن په هر مقام صحابهؓ

..................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 29

څوك چي محبت کړي دَ اصحابؓ سره
ځي به له دُنیا نه ډیر ثواب سره
حشر کښي رضا ورله دَ ربّ به وی
هم حُسن ښکلا ورله ادب به وی
نه کیني دُنیا کښي دَ خراب سره
څوك چي محبت کړي دَ اصحابؓ سره
تړول دی د حضور ﷺ ښکلي یاران دلته
مینه ورسره کړه په جهان دلته
مدام وی دولت دا هر کامیاب سره
څوك چي محبت کړي دَ اصحابؓ سره
مینه رڼاگانو سره دلته ده





مینه صالحانو سره دلته ده
ستورو سره مینه دَ مهتاب سره
څوك چي محبت کړي دَ اصحابؓ سره
مینه دَ خوشبو سره دا دلته کښي
مینه دَ خوشبو سره دا هلته کښي
سم لکه ده مینه دَ گلاب سره
څوك چي محبت کړي دَ اصحابؓ سره
مینه دَ قرآن سره احمده! ده
مینه دَ جانان ﷺ سره احمده! ده
مینه حقیقت کښي حق کتاب سره
څوك چي محبت کړي دَ اصحابؓ سره

..................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ..........منظوم کلام نمبر 30

ستوری ځلیدونکی پړقیدونکی دَ اسمان
دغه صحابهؓ دی دَ نبی اخرزمان ﷺ
هریو سره مینه محبت رڼا رڼا
هریو سره مینه محبت دَ ژوند ښکلا
هریو دَ حضور ﷺ سره ملگري په میدان
ستوری ځلیدونکی پړقیدونکی دَ اسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هريو په مذهب تل په اسلام كړے غيرت
هريو په حضور خير الانام ﷺ كړے غيرت
هريو دے عاشق هم دَ سنت او دَ قرآن
ستورى ځليدونكى پرقيدونكى دَ اسمان
هريو ده نيولے تل جهنډا دَ شريعت
هريو نن كوى زمونږ په زړونو حكومت
هريو سره شته دَ كاميابۍ پوره سامان
ستورى ځليدونكى پرقيدونكى دَ اسمان
ډله په رُتبه كښې صرف وروستو له نبيانو ده
غوره ډله ټوله دَ نيكانو صالحانو ده
ټول دَ محمد رسول الله ﷺ دى شاګردان
ستورى ځليدونكى پرقيدونكى دَ اسمان
پاك الله وركړے ورله زيرې دَ جنت دلته
پاك الله وركړے ورله زيرې ډير اوچت دلته
ښه محفوظه ټول دى هر طرف ته له نقصان
ستورى ځليدونكى پرقيدونكى دَ اسمان
دا ټوله دُنيا ورسره دلته معطره ده
هر خواته چې لاړ شے ورسره هم منوره ده
اعلا جُدا شان لرى هر خواته په ميدان
ستورى ځليدونكى پرقيدونكى دَ اسمان
اے احمده ! ښكلى ښكلى ټول حسين ګلونه دى





ښكلي دَ جانان ﷺ ورسره هرخوا محفلونه دى
ټول دَ زمونږ دَ زړونو په دُنيا كښې دى شاهان
ستورى ځليدونكى پرقيدونكى دَ اسمان

..............................................

# شان اصحابِ رسول ﷺ

## ...........منظوم كلام نمبر 31...........

لمن دَ صحابهؓ، نُور دَ قرآن مۀ پريږده
چمن دَ رڼاګانو دَ جانان ﷺ مۀ پريږده
دَ چا په وسيلې سره قرآن چې شو محفوظ
هر چاته ده معلومه حق بيان چې شو محفوظ
در هغه وسيله ددې جهان مۀ پريږده
چمن دَ رڼاګانو دَ جانان ﷺ مۀ پريږده
دَ چا په وسيله چې پيژندلې مونږ جانان ﷺ
مولىٰ دَ رضا چادَ پاره كړې چې اعلان
ورسره تعلق په يو مكان مۀ پريږده
چمن دَ رڼاګانو دَ جانان ﷺ مۀ پريږده
اصحابؓ پوره تمام دى په سيرت رڼا رڼا
حضور ﷺ سره په هر محل دوى كړې ده وفا
اسباب دَ حفاظت دَ خپل ايمان مۀ پريږده
چمن دَ رڼاګانو دَ جانان ﷺ مۀ پريږده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول ستوري په دُنیا کښې په اسمان دَ هدایت
هر چاله وسیله په هر مکان دَ سعادت
در هیڅ کله دَ قدر ، قدردان مهٔ پریږدے
چمن دَرنا ګانو دَ جانان ﷺ مهٔ پریږده
اعلا بالا دُنیا کښې لری هریوه ادا
احمده ! ضروری ورسره دلته ده وفا
ورسره تعلق ښکاره عیان مهٔ پریږده
چمن دَرنا ګانو دَ جانان ﷺ مهٔ پریږده

..................................................

# شانِ اصحابِ رسول ﷺ

## .......منظوم کلام نمبر32..........

دښمن چې دَ اصحابؓ وی ، وفادار کله دے؟
دَ میني محبت هغه حقدار کله دے؟
عمل ئې اسلام دَشریعت چې وی خلاف
پخپله په هرلور باندې کوُلے شی انصاف
وایه په څهٔ خبره دې دَ کار کله دے؟
دښمن چې دَ اصحابؓ وی ، وفادار کله دے؟
یو خواته مخالف دے دَ قرآن دَ ایاتونو
بل خواته مخالف هغه په جار دَحدیثونو
تابع دَ خپل مالك پروردیګار کله دے؟





دښمن چې دَ اصحابؓ وی ، وفادار کله دے؟
اصحابؓ سره چې بُغض لری دلته په جهان
محرومه به پوره پوره وی دلته له ایمان
منزل نه لرے لرے دے بیدار کله دے؟
دښمن چې دَ اصحابؓ وی ، وفادار کله دے؟
د دین دَبُنیادونو حقیقت کښې مخالف
دَ ښهٔ اعلا ګلونو شریعت کښې مخالف
د دین دَ شریعت په حقه لار کله دے؟
دښمن چې دَ اصحابؓ وی ، وفادار کله دے؟
عمل چې دَ جنت نه کوی دلته یو بشر
روان چې مخالف وی دَ صدیقؓ او دَ عمرؓ
جنت نه لرے لرے دے هوښیار کله دے؟
دښمن چې دَ اصحابؓ وی ، وفادار کله دے؟
شیطان خوشحالوی منکر سرې په بدعمل
شیطان خوشحالوی کافر سرې په هر محل
پخپله راته وایه دیندار کله دے؟
دښمن چې دَ اصحابؓ وی ، وفادار کله دے؟
توحید نه لرے لرے چې مدام وی په عالم
ملګري دَ شیطان سره هر خوا په هر قدم
دښمن دَ صحابهؓ سرې دَ کار کله دے؟
دښمن چې دَ اصحابؓ وی ، وفادار کله دے؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمده ! حقيقت کښې دَفلاح نه لرے لرے
اصحابؓ نه چې وی لرے ،له اصلاح نه لرے لرے
ملګرې دَ نبيانو دَ سردار ﷺ کله دے؟
دښمن چې دَ اصحابؓ وی ، وفادار کله دے؟

..................................................

# شان اصحابِ رسول ﷺ

## ...........منظوم کلام نمبر33

فرمان دَ نبی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ
په دې مې ايمان دے په دې مې يقين
په اصحابؓ کښې هريو ښهٔ اعلا حسين
خبر ښهٔ قوی تمام ستوری صحابهٔ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ
زمونږ عقيده دا ، زمونږه يقين
اُمت ښهٔ اعلا دَ نبی ﷺ بهترين
مسلمان منی تمام ستوری صحابهٔ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ
معطَر معطَر دوی ټول وجود
عطا په جهان دلته کښې دَ ودود
بدن خوشبوئی تمام ستوری صحابهٔ





قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ
دَ دين دَ اسلام پيروکار دوی تمام
دَ دين دَ اسلام وفادار دوی تمام
په تن نورانی تمام ستوری صحابهٔ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ
ښهٔ اعلا ښهٔ بالا دَ دوی هر قدم
په دوی دَ مولیٰ دلته ډير دے کرم
په ژوند مثالی تمام ستوری صحابهٔ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ
پوره پوره ټول په سيرت سره دوی
اعلا پوره ټول هر صفت سره دوی
اعلا زندګی ، تمام ستوری صحابهٔ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ
هريو په صفت په عدل دوی پوره
په حق ګفتګو دلته تل دوی پوره
دې هريو ولی تمام ستوری صحابهٔ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ
وسيله تمامه د دين دَ حصول
روان دوی تمام دی پوره په اُصول
فلاح ابدی تمام ستوری صحابهٔ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَدوی اقتدا ، اقتدا دَ قراٰن
ددوی اقتدا ،اقتدا دَ جانان ﷺ
زمونږ زندګی تمام ستوری صحابهٌ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٌ
رضا دوی دَپاره دَربّ دلته تل
عطا دوی دَپاره ،ددوی ښهٔ عمل
هریو جنتی تمام ستوری صحابهٌ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٌ
دَصدیقٌ عمرٌ تذکره په جهان
له خوند نه ډکه تذکره دَعثمانٌ
احمده !علیٌ تمام ستوری صحابهٌ
قمر مدنی ﷺ تمام ستوری صحابهٌ

..................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

...........منظوم کلام نمبر34...........

اصحابٌ له بشارت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
افضل غوره اُمَّت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
مولیٰ نه دوی رضا دی
دوستان تول مولیٰ دی
ثابت دا فضیلت رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم





افضل غوره اُمَّت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
کامیابه تول تمام دی
زمونږ تول امامان دی
مَل تول دَ هدایت رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
افضل غوره اُمَّت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
ملګري دَ حضرت ﷺ دی
اعلیٰ تول په سیرت دی
لرونکي دا نسبت رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
افضل غوره اُمَّت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
ژوندون رڼا رڼائي
معاف شوي هر خطائي
وتلی له ظلمت رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
افضل غوره اُمَّت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
کامل له په ایمان دی
دَ نبی ﷺ وارثان دی
ناشر دَ شریعت رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
افضل غوره اُمَّت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
عادل له په سیرت دی
کامل له دی اُوچت دی
افضل غوره اُمَّت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
پیغام ئې اُخوَت رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم

شیطان نه لرے لرے
نقصان نه لرے لرے
دَ حق دی علامت رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
افضل غوره اُمت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
احمده! پرهیزګاره
هریو په نیغه لاره
مسکن لری جنت رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم
افضل غوره اُمت ، رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُم

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ...........منظوم کلام نمبر35 ...........

په شان دَ اسمان بره ستوری صحابهؓ
رڼا په جهان بره ستوری صحابهؓ
دَ هریو دَ پاره دَ رب ده رضا
دَ هریو دَ پاره ده ډیره عطا
دوستان دَ جانان ﷺ بره ستوری صحابهؓ
په شان دَ اسمان بره ستوری صحابهؓ
دَ هریو دَ پاره تیار جنتونه
دَ هریو د پاره تیار نعمتونه
تمام قدردان بره ستوری صحابهؓ



(c) ketabton.com: The Digital Library



په شان دَ اسمان بره ستوری صحابهؓ
فلاح دَ دوی تولو دَ پاره ده دلته
ښهٔ نیغه ددوی تولو لاره ده دلته
منی مسلمان بره ستوری صحابهؓ
په شان دَ اسمان بره ستوری صحابهؓ
د دوی هرادا په جهان لاجواب
د دوی اداګانې رڼا دَ افتاب
زمونږ امامان بره ستوری صحابهؓ
په شان دَ اسمان بره ستوری صحابهؓ
کلام دَ احمد دغه حق تول تمام
قمر دي نبی ﷺ دوی له دلته امام
ښکاره دغه شان بره ستوری صحابهؓ
په شان دَ اسمان بره ستوری صحابهؓ

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### ...........منظوم کلام نمبر36 ...........

مخلصه دَ رسول اللّٰه ﷺ یاران صحابهؓ
ملګری دَ آقا ﷺ په هر میدان صحابهؓ
دَ بدر دَ احد هریو میدان په دي ګواه
لمحي هغه ساعت هغه دوران په دي ګواه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضبوط په بدنونو په ایمان صحابهؓ
مخلصه دَرسول الله ﷺ یاران صحابهؓ
ژوندون لری تمام دَ آیاتونو ښهٔ تفسیر
دَپاك نبی ﷺ دَ ټولو حدیثونو ښهٔ تصویر
پوهه، خبر پوره دي په قرآن صحابهؓ
مخلصه دَرسول الله ﷺ یاران صحابهؓ
اعلیٰ په امتونو کښي دَپاك نبی ﷺ امت
دَ سیدالوریٰ سره په څنګ کښي هرساعت
دي انتخاب نبی ﷺ له دَ رحمٰن صحابهؓ
مخلصه دَرسول الله ﷺ یاران صحابهؓ
خائسته ښکلی تمام دی په کردار سره پوره
شیرین صفت بیان دی په ګفتار سره پوره
ګلونه دَ نبی ﷺ دَ ګلستان صحابهؓ
مخلصه دَرسول الله ﷺ یاران صحابهؓ
ولیانو، صالحانو له، هرچا له مقتدا
لعلونه دَ جهان لری د دوی هریو ادا
ستوری دَ رڼاګانو په آسمان صحابهؓ
مخلصه دَرسول الله ﷺ یاران صحابهؓ
احمدعلی مداح ددي داسي خلقو په جهان
دفاع دداسي خلقو کوی دلته کښي قرآن
تصویر دَ محبت په هر مکان صحابهؓ





مخلصه دَرسول الله ﷺ یاران صحابهؓ

..............................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

### منظوم کلام نمبر37...........

اصحابؓ دَ مصطفیٰ ﷺ
مقام لری اعلیٰ
خیرخواه دَ ټول جهان
ناشر دَ حق بیان
خوشبو لری وینا
اصحابؓ دَ مصطفیٰ ﷺ
کردار لری اُوچت
ګفتار لری اُوچت
تصویر ټول دَ وفا
اصحابؓ دَ مصطفیٰ ﷺ
رحمت لری وجود
نعمت لری وجود
مینه مینه هرخوا
اصحابؓ دَ مصطفیٰ ﷺ
صفت صفت تمام
هریو زمونږ امام

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمام دی اولیاء
اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
داعی دَ حق کتاب
هریو پوره کامیاب
په حق باندې فدا
اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
غوره اعلیٰ امت
غوره دا جماعت
وینا لری صفا
اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
روان په حقه لار
احمده! پرهیزګار
زمونږ ددین بقا
اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ

..................................................

## شان اصحابِ رسول ﷺ

**.........منظوم کلام نمبر38 .........**

تصویر دَ حق پوره ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
لری لویه رُتبه ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
ګفتار لری شرین ، کردار لری حسین





سیرت ښهٔ بهترین،کامل ایمان یقین
لری ښهٔ تذکره ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
لری لویه رُتبه ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
ایمان سره اول ، حُسن دَ هر محل
برکت لرونکي پَل، اعلیٰ په هر عمل
بالا هره نامه ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
لری لویه رُتبه ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
ملګری دَ نبی ﷺ کامل هریو ولی
په تن بدن قوی ، ژوندون ئې نورانی
بالا په طریقه ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
لری لویه رُتبه ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
خوشبو خوشبو دی ټول، روان په ښهٔ اُصول
لعلونه دی انمول ، حُسن دي دَ ماحول
پوره کړه هر وعده ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
لری لویه رُتبه ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
بالا په هر قدم ، هریو دي محترم
په دوی دَ ربّ کرم ، زړونه لری نرم
حسینه ګلدسته ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
لری لویه رُتبه ، اصحابٌ دَ مصطفیٰ ﷺ
شاهان ئې غلامان ،دَ وحی کاتبان
زړهٔ وره انسانان ، ستوری دی دَ اسمان

مخکښې دی په صدقه ، اصحابؓ دَ مصطفیٰ ﷺ
لری لویه رُتبه ، اصحابؓ دَ مصطفیٰ ﷺ
احمده ! امامان، دَ رسول ﷺ وارثان
ناشر دی دَ قرآن ، داعی دَ حق بیان
ښکلي په تبصره ، اصحابؓ دَ مصطفیٰ ﷺ
لری لویه رُتبه ، اصحابؓ دَ مصطفیٰ ﷺ

.................................................

# شان اصحابِ رسول ﷺ

## ..........منظوم کلام نمبر 39

نبی ﷺ له راشه راشه دَ اصحابؓ په طریقه
فلاح ده چې روان شے دَ کامیاب په طریقه
ددین دَ شریعت دَ هر عمل دی محافظ
دَ پاك نبی حضرت ﷺ دَ هر عمل دی محافظ
دا هرځۀ نیشته نیشته دَ نواب په طریقه
نبی ﷺ له راشه راشه دَ اصحابؓ په طریقه
غوره په اُمتونو کښې عظیم هغه اُمت
بیان دَ ربّ کتاب کښې دَ هغوی دے فضیلت
دَ سید الوریٰ ﷺ شه دَ احباب په طریقه
نبی ﷺ له راشه راشه دَ اصحابؓ په طریقه
رڼا ورسره دلته دَ جهان په هر قدم ده



(c) ketabton.com: The Digital Library



رُتبه ډیره اُوچته د دوی ټولو په عالَم ده
دَ سید البشر ﷺ دَ نور افتاب په طریقه
نبی ﷺ له راشه راشه دَ اصحابؓ په طریقه
سبب دَ خوشحالو دَ جهان دلته دوی تمام
هریو پوره پوره تمام مخلوق لره امام
تلل مونږ له دی پکار دَ لاجواب په طریقه
نبی ﷺ له راشه راشه دَ اصحابؓ په طریقه
په دې لاره هرچا ته ملاویږی تل سکون
په دې لاره به تاته ملاویږی ښۀ ژوندون
ګلونو سره مَل شه دَ ګلاب په طریقه
نبی ﷺ له راشه راشه دَ اصحابؓ په طریقه
دا لاره دَ صدیقؓ او عثمان ابن عفانؓ ده
دا لاره دَ علیؓ دَ ابوذرؓ او دَ سلمانؓ ده
روان شه دَ عمر ابن خطابؓ په طریقه
نبی ﷺ له راشه راشه دَ اصحابؓ په طریقه
لعلونه ملغلري په دې لار باندې پرتې دی
روانې له دې در نه دَ عظمت ټولې چینې دی
جانان ﷺ له لاړ شه لاړ شه دَ کتاب په طریقه
نبی ﷺ له راشه راشه دَ اصحابؓ په طریقه
احمده ! وسیله دَ هر نعمت ده په جهان
محفوظ ورسره دلته هر حصه ده دَ ایمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان شه دَ علومو دَ آداب په طریقه
نبی ﷺ له راشه راشه دَ اصحابؓ په طریقه

..............................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

..................منقبت نمبر 40..................

ترتیب دَ خلافت سره اول صدیقؓ دے
اصحابؓ کښې دَ آقا ﷺ غوره افضل صدیقؓ دے
افضل له انبیاء نه پس دلته په دي جهان
منی، دا عقیده لری دلته کښې مسلمان
ممتاز دَ سخاوت په صفت تل صدیقؓ دے
ترتیب دَ خلافت سره اول صدیقؓ دے
بل نۀ لری ثانی په غارِ ثور کښې مصطفیٰ ﷺ
لوستلي دَ هجرت به واقعه وی دلته تا
په سختو په تکلیف کښې مدام مَل صدیقؓ دے
ترتیب دَ خلافت سره اول صدیقؓ دے
خیرالوریٰ لقب دَ انبیاء نه پس ددوی
اعلائي د مولیٰ دلته کښې کړي بندګی
تصویر پوره پوره دَ تحمل صدیقؓ دے
ترتیب دَ خلافت سره اول صدیقؓ دے
شیرین صفت تمام د هغوی دلته کښې ګفتار
امیر دَ مؤمنانو دَ لښکر عظیم سالار





پوهه دَ مشرۍ په هریو چَل صدیقؓ دے
ترتیب دَ خلافت سره اول صدیقؓ دے
احمدعلی تحریر دي مختصر په تول پوره
مدحه کوی دَ سیّدالبشر ﷺ په تول پوره
ممتاز په هر صفت په هرچَل صدیقؓ دے
ترتیب دَ خلافت سره اول صدیقؓ دے

..............................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

..................منقبت نمبر 41..................

تلاوت ترڅو چې دَ قرآن وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
ثَانِیَ اثْنَیْنِ اِذْ هُمَا فِی الْغَار سره
ذکر دَ صدیقؓ کیږی تکرار سره
باقی چې ترڅو زمکه اسمان وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
دَ مولیٰ کلام دے دا باقی به وی
محفوظه دَرَبّ مولیٰ وحی به وی
ورسره خائسته به هر مکان وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
زیري ورله دلته دَ جنت ښکلي
ورله رَبّ ورکړے هر صفت ښکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅو چي په زمکه مسلمان وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
هغه دَ نبیانو دَ سردار ﷺ په لار
هغه یار دَ غار دَ حضور ﷺ جانثار
ورسره مدام خواکښي جانان ﷺ وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
چا چي خپل دولت تمام قربان کړلو
چا چي خپل محبوب نبی سلطان ﷺ کړلو
داسي په دُنیا کښي عاشقان وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
هغه دَ حضور ﷺ دَ مصلي وارث
هغه دَ نبی ﷺ دَ طریقي وارث
ترڅو چي دا دین وی دا بیان وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
هریوه ادا ئي دَ نبی ﷺ خوښه
ژوند کښي ئي هرخواته عاجزی خوښه
نیشته څوك چي داسي عالیشان وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
دوی دَ صداقت په صفت یاد تمام
دوی دَ سخاوت سره مل دی مدام
دا مني چي چا سره ایمان وی





ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
اول خلیفه دَ مؤمنانو تل
مقتدا دَ ټولو امامانو تل
حضور ﷺ پسے هر ساعت روان وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
بدر دَ اُحد میدان ګواه ددي
مدینه کښي هر مکان ګواه ددي
مَل دَ خوږ نبی ﷺ په هر میدان وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی
سیّدالوریٰ ﷺ سره حجره کښي نن
دَ جنت احمده! باغیچه کښي نن
چرته چي سکون وی اطمینان وی
ذکر دَ صدیقؓ به په جهان وی

..........................................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

.....................منقبت نمبر 42.....................

صدیقؓ سره مینه لرم له پخوانه
تپوس کولے شے دُنیا کښي له چانه
دَ خوږ نبی ﷺ محبوب دَ خوږ نبی ﷺ دلبر
ملګري دَ حضور ﷺ هرخواته په هر در
پوهه په دي دلته ، ښه ډیره اسانه

صدیقؓ سره مینه لرم له پخوانه
تصدیق دَ معراج دلته دوی کړے دے اوّل
سخی، عادل مدام، حیا سره کتل
لعلونه دَ جهان ،سیرت ئې خزانه
صدیقؓ سره مینه لرم له پخوانه
هجرت کښې دَ حضور ﷺ سره ښۀ ښکلی په ځنګ
دَ دین دَ شریعت په رنګ سره ټول رنګ
نۀ بیل ،نۀ به بیل شی هیڅ کله آقا ﷺ نه
صدیقؓ سره مینه لرم له پخوانه
لَا تَحْزَنْ تسلی قرآن کښې ښۀ په جار
ملګرې دَ حضور ﷺ سره دَ ثور دَ غار
پټ نۀ دے دا بیان ،خبر دغه تانه
صدیقؓ سره مینه لرم له پخوانه
سبق دَ محبت په دَ ژوند کښې دَ وفا
ثانی نۀ لری څوك امت کښې په دُنیا
بالا په نور رڼا ،اعلیٰ ئې ګرانه
صدیقؓ سره مینه لرم له پخوانه
نمبر دَ خلافت د دوی دلته اول
نمبر دَ امامت د دوی دلته اول
ګواه په دې بیان دلته دا زمانه
صدیقؓ سره مینه لرم له پخوانه



(c) ketabton.com: The Digital Library



په شوق او محبت صفت دا دَ صدیقؓ
الله، رسول ﷺ نه پس نسبت دا دَ صدیق
احمدعلی وائی ، دا نظم ترانه
صدیقؓ سره مینه لرم له پخوانه

..........................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

..................منقبت نمبر 43..................

اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے
صاحب دَ سیّدالبشر ﷺ اُوچت دے
وفا حیا سره کامله پوره
حُسن رڼا سره کامله پوره
دَ حُسن تاج لری په سر اُوچت دے
اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے
قرآن ګواه ثانی اثنین هغه دے
محبوب دَ سیّدالکونین هغه دے
هغه محبوب هغه دلبر اُوچت دے
اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے
تل په نسبت دَ پیغمبر ﷺ ښۀ اعلیٰ
تل په نسبت دَ خپل دلبر ﷺ ښۀ اعلیٰ
په سوچ سره ، په درودند نظر اُوچت دے
اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلا بالا دوست دَ محبوب مدنی ﷺ
دَ هجرت مَل ،دَ غارِ ثور دَ نبی ﷺ
تل په نسب هم په ټبر اُوچت دے
اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے
نمبر لری په خلافت کښې اوّل
مقام لری په امامت کښې اوّل
په دې صفت هغه رهبر اُوچت دے
اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے
یاد په صدیقؓ سره هر خواته هغه
وینا ریښتیا کوی دُنیا ته هغه
خطیب اعلیٰ دَ حق منبر اُوچت دے
اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے
دَ عائشې بی بیؓ والد محترم
له هر بشر نه زیات شفیق ښهٔ نرم
سخی سالار دَ حق لښکر اُوچت دے
اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے
مَل دَ حضور ﷺ سره روضه کښې مدام
مَل دَ حضور ﷺ سره په هر یو مقام
دوست دَ علیؓ عثمانؓ عمرؓ اُوچت دے
اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے
احمد ئې مدحه په لور به کوی





تذکره دلته کور په کور به کوی
صخر دَ حضور نبی سرور ﷺ اُوچت دے
اصحابؓ کښې صدیق اکبرؓ اُوچت دے

---

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

منقبت نمبر 44

دَ اصحابؓ چې گلدسته وی تذکره به دَ صدیقؓ وی
کله یاده چې روضه وی تذکره به دَ صدیقؓ وی
گواهی ورکوی هلته ټول خیزونو دَ عرب
تمیمی دے قریشی دے ښهٔ اعلیٰ په ټول نسب
چې مکه وی مدینه وی تذکره به دَ صدیقؓ وی
دَ اسلام په صف کښې راغے مؤمنانو کښې اول
په اُمت کښې دے له ټولو هغه غوره ښهٔ افضل
چې سریه وی یا غزوه وی تذکره به دَ صدیقؓ وی
دَ اسلام دفاع کوونکے په اسلام باندې مئین
په سیرت سره تمام ښهٔ اعلیٰ دے بهترین
دَ اسلام چې عقیده وی تذکره به دَ صدیقؓ وی
هر طرف ته ښهٔ په جار شیطانانو نه بیزاره
مهربانه په هرچا وو ،دَ محبوب ﷺ په نیغه لاره
چې اعلیٰ ښه طریقه وی تذکره به دَ صدیقؓ وی
دَ حضور ﷺ سره په خوا کښې په سکون دے په آرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ محبوب هغه وارث ، مقرره دے امام<br>
یاده کله چي حجره وی تذکره به دَ صدیقؓ وی<br>
دَ معراج له واقعي نه ناخبره دي خبر وی<br>
خبرداره دي هر خواته دَ جهان هریو بشر وی<br>
چي بیان هغه قصه وی تذکره به صدیقؓ وی<br>
غارِ ثور په هر طرف مَل دَ سیِّدالانام ﷺ دے<br>
دَ جانان ﷺ سیرت ورسره په دُنیا پوره تمام دے<br>
چي دَ خوږ نبی ﷺ اُسوه وی تذکره به دَ صدیقؓ وی<br>
دَجنت زیري لرونکے دَ دُنیا په دي محل<br>
دَقرآن جمع کوُنکے هغه تولو کښي اول<br>
چي ایمان وی سپاره وی تذکره به دَ صدیقؓ وی<br>
اداګاني په کښي تولي دَ جانان ﷺ دلته کښي ښکاري<br>
رنګاګاني په کښي تولي دَ قرآن دلت کښي ښکاري<br>
چي دَصدق هر نقشه وی تذکره به دَ صدیقؓ وی<br>
صخر دَ خوږ نبی سلطان ﷺ دا تمام جهان ته پته<br>
وصیَت دَ خوږ جانان ﷺ دا تمام جهان ته پته<br>
یاد اول چي خلیفه وی تذکره به دَ صدیقؓ وی<br>
دَ احمدعلی شعرونه صفتونه دَ صدیقؓ دی<br>
ملغلري دی لعلونه دَ صفتونه دَ صدیقؓ دی<br>
چي بهتره زمانه وی تذکره به دَ صدیقؓ وی

..........................................................





## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

...................منقبت نمبر 45...................

محبوبؓ دَ مرسلانو دافسر ﷺ صدیقؓ دے<br>
وارث دَ مصلي دَ پیغمبر ﷺ صدیقؓ دے<br>
اسلام ئي قبول کړے دے له تولو نه اول<br>
دَ پاك نبی ﷺ یارانو کښي دوستانو کښي افضل<br>
اعلا بالا لرونکي درودند نظر صدیقؓ دے<br>
وارث دَ مصلي دَ پیغمبر ﷺ صدیقؓ دے<br>
مکۀ کښي داسي نه وو بل دَ پاك نبی ﷺ غمخوار<br>
په دي لرم یقین ، جهان دي تول وی خبردار<br>
منم دا مي ایمان دے بختور صدیقؓ دے<br>
وارث دَ مصلي دَ پیغمبر ﷺ صدیقؓ دے<br>
دَ حضرت عائشي بی بیؓ والدِ محترم<br>
شفیق ، ښۀ مهربانه له هر چانه زیات نرم<br>
اخلاق سره داسي په لر او بر صدیقؓ دے<br>
وارث دَ مصلي دَ پیغمبر ﷺ صدیقؓ دے<br>
هجرت کښي دَ حضور ﷺ سره روان وو ځنګ په ځنګ<br>
د دین دَ شریعت په رنګ سره پوره وو رنګ<br>
د دین دَ قافلي عظیم رهبر صدیقؓ دے<br>
وارث دَ مصلي دَ پیغمبر ﷺ صدیقؓ دے<br>
دَ غار ثور دَ سختي نه صرف هغه خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفاظ دَ تسلی ورله ورکړی پیغمبر ﷺ
محفوظ دَ ربَ په فضل له هرشر صدیقؓ دے
وارث دَ مصلي دَ پیغمبر ﷺ صدیقؓ دے
اول دَ خلافت تاج ورته دلته دے پسر
اعلیٰ په ټول نسب سره اعلیٰ په ټول ټبر
ملګرې ښهٔ نزدې هم دَ عمرؓ صدیقؓ دے
وارث دَ مصلي دَ پیغمبر ﷺ صدیقؓ دے
روضه کښې دَ حضور ﷺ سره نزدې ښهٔ په سکون
آرام سره تیرېږی دَ هغوی هغه ژوندون
په ژبه جنتی دَ خپل دلبر ﷺ صدیقؓ دے
وارث دَ مصلي دَ پیغمبر ﷺ صدیقؓ دے
قرآن جمع کوُنکے ، محافظ دحق کلام
عاشق له هرعاشق نه زیات دَ سیّدالانام ﷺ
احمده ! دَ نبی ﷺ هم دَ زړهٔ سر صدیقؓ دے
وارث دَ مصلي دَ پیغمبر ﷺ صدیقؓ دے

..........................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

...................منقبت نمبر 46...................

اُمت کښې افضل غوره په جهان صدیق اکبرؓ
امیر المؤمنین عظیم انسان صدیق اکبرؓ
ملګرې دَ هجرت دَ پیغمبر ﷺ په هر قدم





ثانی په غارِ ثور کښې دَ جانان ﷺ صدیق اکبرؓ
پخپله پاك رسول ﷺ په مصله دې اُودرولې
داسې بالا لرونکې اوچت شان صدیق اکبرؓ
دَ اَمّ المؤمنین دَ عائشې بی بی بابا
اُمت لره غمخوار دے، قدردان صدیق اکبرؓ
نمبر دَ خلافت لری په ټولو کښې اول
منلې په عظمت هرمسلمان صدیق اکبرؓ
زیرې ورله کړې پیغمبر ﷺ دے دَ جنت
ملګری دَ عمرؓ علیؓ عثمانؓ صدیق اکبرؓ
عمرؓ ئې مقتدی ، عثمانؓ علیؓ ئې پیروکار
محبوب دَ محمد اٰخرزمان ﷺ صدیق اکبرؓ
احمدعلی مدام د دوی دفاع کوی په جار
حصه زمونږ دَ ټولو ایمان صدیق اکبرؓ

..........................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

...................منقبت نمبر 47...................

سبق واخله د مینې تهٔ له صدیقؓ نه
سبق اعلیٰ دَ ژوندون ښهٔ له صدیقؓ نه
پوره دَ دین دَ شریعت ورسره دلته کښې رنها
لری دَ دین دَ شریعت پوره پوره حُسن ښُکلا
چې بیل نهٔ کړے دغه خپل زړهٔ له صدیقؓ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبق واخله د میني تۀ له صدیقؓ نه
دَ صداقت سبق دَ دوی دَ ژوندون ده اهم حصه
دَ سخاوت سبق دَ دوی دَ ژوندون ده اهم حصه
بینائی واخله دَ نظر، رانجۀ رانجۀ له صدیقؓ نه
سبق واخله د میني تۀ له صدیقؓ نه
صادق ملګرے دَ هجرت دَ مصطفیٰ خیر الابرار ﷺ
مدام ملګرے دَ حضور ﷺ سره روضه کښې دَ مزار
زده کړه اعمال دَ ژوند کړۀ وړۀ له صدیقؓ نه
سبق واخله د میني تۀ له صدیقؓ نه
دَ خلافت دَ پاره بیا دَ د وی اوّل دے انتخاب
دَ امامت دَ پاره بیا دَ دوی اوّل دے انتخاب
درانه اعمال پاتے وو نۀ له صدیقؓ نه
سبق واخله د میني تۀ له صدیقؓ نه
هغه عابد، هغه خیر خوا احمده! دلته دَ هر چا
جمع کوُنکے دَ قرآن زمونږ دَ پاره په دُنیا
جُدا به دلته شے په څۀ له صدیقؓ نه
سبق واخله د میني تۀ له صدیقؓ نه

..............................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

....................منقبت نمبر 48....................

ښۀ اعلیٰ ښۀ بالا، په اصحابؓ کښې بهتر





صدیق اکبرؓ، صدیق اکبرؓ
په ټولو کښې اعلا د دوی دے مقام
صحابهؓ دَ پاره خلیفه امام
ښۀ اعلا لرونکي دي دلته کښې لښکر
صدیق اکبرؓ، صدیق اکبرؓ
ښه اعلا، ښۀ بالا مدام په جمال
مینه محبت ئې کمال دے کمال
ښۀ اعلا لرونکي دي دلته مُقدر
صدیق اکبرؓ، صدیق اکبرؓ
مُطیع تل دَ مولیٰ، مُطیع دَ نبی ﷺ
صفت هریو بالا په ژوندون لری
تمام لری ژوندون ښۀ اعلا معطّر
صدیق اکبرؓ، صدیق اکبرؓ
سخاوت سره یاد هر خواته تل
صداقت سره یاد په هر محل
ملګري دَ جانان ﷺ دَ روضې دَ محشر
صدیق اکبرؓ، صدیق اکبرؓ
دَ هجرت په وخت دَ حضور ﷺ سره مَل
انداز ئې له ټولو نه اعلا بدل
دَ ثور غار دلته لری اعلا منظر
صدیق اکبرؓ، صدیق اکبرؓ

ښـه اعـلا وو قـاری ، دَ قـرآن عـاشـق
پـه لار دَ نبـی ﷺ وو، دَ جـانـان ﷺ عـاشـق
لـری یـاد دلتـه ، پـه اغیـار خـنـجـر
صـدیـق اکبـرؓ ، صـدیـق اکبـرؓ
نبـی ﷺ سـره خـوا کښـې لـری اعـلا مسـکـن
نبـی سـره خـوا کښـې لـری اعـلا مـدفـن
دَ آرام لـرونـکـې دے احـمـده ! بسـتـر
صـدیـق اکبـرؓ ، صـدیـق اکبـرؓ

..................................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

..................منقبت نمبر 49..................

غـوره پـه ټـولـو کښـې، اعـلیٰ دے فـضیـلـت والا
اول صـدیـقؓ دے خـلـفـاء کښـې خـلافـت والا
غـوره انسـان پـه امـامـانو صـالـحانو کښـې دے
غـوره انسـان دَ پـیـغـمبر ﷺ ټولو دوستانو کښـې دے
اول رهبـر ، زمـونـږ خیـر خوا ، اعـلیٰ سیـرت والا
غـوره پـه ټـولـو کښـې، اعـلیٰ دے فـضیـلـت والا
هـریـو خبـره ئـې درنـه خـوږه ګبیـن دَ جهـان
سیـرت صـورت سـره پـوره تـمـام حسیـن دَ جهـان
زیـات لـه هـر چـانـه مهربـانـه ډیر شـفـقـت والا
غـوره پـه ټـولـو کښـې، اعـلیٰ دے فـضیـلـت والا



(c) ketabton.com: The Digital Library



مبـارك هـر قـدم لـرونـکـې دَ جهـان دلتـه کښـې
مـخـکښـې لـه ټولو نه راوړے دوی ایمان دلته کښې
اعـلا نـاصـح ، لـوئـې مُبلّغ پـه ژوند دعوت والا
غـوره پـه ټـولـو کښـې، اعـلیٰ دے فـضیـلـت والا
دَ غـارِ ثور مـلـګـرې دَ نبی سلطان ﷺ دلتـه کښـې
دَ تسـلـی ټـکـی دی ذکـر پـه قـرآن دلتـه کښـې
مـلـګـرې خـوږ نبـی ﷺ سـره روان هـجـرت والا
غـوره پـه ټـولـو کښـې، اعـلیٰ دے فـضیـلـت والا
تـصدیق کـوُونـکـے دَ مـعـراج دَ واقـعـې تمام دے
تـصدیق کـوُونـکـې دَ مـعـراج دَ هر حصې تمام دے
کـامـل عـاشـق، اثـر لـرونـکـے ښـهٔ صـحبت والا
غـوره پـه ټـولـو کښـې، اعـلیٰ دے فـضیـلـت وال
دَ مظلـومـانو هـر طـرف تـه پـه هـر لور ملګرے
دَ یتیـمـانـو یسیـرانـو دَ هـر کـور مـلـګـرے
مـدد کـوُنـکـے دَ مـخلوق ښـکـاره خدمت والا
غـوره پـه ټـولـو کښـې، اعـلیٰ دے فـضیـلـت والا
عـائشـه سیـده د پـاك نبـی ﷺ زوجـه طیّبـه
لـری ازواج کښـې ډیـره لـویـه مـرتبـه طیّبـه
لـور دَ صـدیـقؓ ده ډیـره نیـکـه عبـادت والا
غـوره پـه ټـولـو کښـې، اعـلیٰ دے فـضیـلـت والا
پـه مـصـلـې دَ نبـی ﷺ دلتـه کښـې ولاړ پـه ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په طریقې دَ نبی ﷺ دلته کښې ولاړ په ادب
دَ حضور ﷺ اَمر سره امام امامت والا
غوره په ټولو کښې، اعلیٰ دے فضیلت والا
عثمانؓ د دوی په برکت سره اسلام قبول کړۀ
صادق ریښتوني دَ مولیٰ هغه کلام قبول کړۀ
وجود احمده! دَ هغوی تمام رحمت والا
غوره په ټولو کښې، اعلیٰ دے فضیلت والا

..................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

..................منقبت نمبر 50..................

په تمامو اصحابوؓ کښې افضل دے
جنتی صحابیؓ یاد په هر محل دے
ورله زیري دَ جنت نبی ﷺ ور کړے
ورله دلته امامت نبی ﷺ ور کړے
دَ حضور ﷺ سره ولاړ ښۀ ځنګ په ځنګ وو
کۀ دَ امن وو حالت یا کۀ دَ جنګ وو
په نسب کښې قریشی ډیر قدردان دے
بیا بنوتمیم د دوی درونډ خاندان دے
په مکه کښې پیدا شوي دے ملګرو!
په سیرت سره ډیر ښکلي دے ملګرو!
څه دوه نیم کاله وړوکي له حضور ﷺ نه





ډیر عاجزه لرے لرے له غرور نه
خلفاء کښې په اول نمبر هغه دے
پلار دَ اُمّ المؤمنین دَ عائشهؓ دے
خوږ نبی ﷺ سره نکاح کښې ددوی لور وه
په ازواج کښې ډیره خوښه دَ حضور ﷺ وه
عائشهؓ ده سیده ده قدرانه
لور د دوی ډیره درنه ده قدرانه
سخاوت کښې یې ثانی په جهان نشته
صداقت کښې یې ثانی په جهان نشته
یار دَ غار ورته قرآن وائي په جار
ثانی یاد دے په حسین ښکلي ګفتار
دَ هجرت ملګرے هم دَ پاك نبی ﷺ وُ
شرك، شراب نه لرے لرے قدرتی وُ
دَ معراج تصدیق سره یاد په صدیق دے
دَ حضور ﷺ په ژبه یاد هم په عتیق دے
لری ډیري قرباني د دین دَ پاره
پرهیزګاره د حضور ﷺ ډیر وفاداره
دَ حضور سره په خوا کښې نن آرام کړی
مسلمان به همیشه ئي احترام کړی
په دُنیا کښې دَ حضور ﷺ سره په ځنګ دے
په عقبیٰ کښې دَ حضور ﷺ سره په ځنګ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایــه څـوك شـول پــه تـحـریـر بره بیـان ؟
وایـــه څـوك شـول دا عـظیـم بـره انسـان ؟
خـلـفـاء کښـي پــه اول نـمبـر هر خوا تــه
امـامـت کښـي صـحـابـهٌ لـری تـول شا تـه
څـوك دے څـوك دے ښــهٔ پــوره شـــه خبـردار
دَاسـمـــان سـتـوري دَ نـور دے پـــه حُسـنـدار
هـغــه دوسـت دَ پـیـغـمبـر دے عبداللّـهؓ دے
پـــه ابـوبـکـرؓ یــاد شـوي پــه دُنیـا دے
ځـوئـي دَ ابـوقـحـافـه عـظیـم انسان دے
نـوم د دوی پـــه کـتـــابـونـو کښـي عـثـمـانؓ دے
والـــده ئـي پـــه سـلـمیٰ بی بی ده یاده
تـپـوس اُوکـړه ځـــان خبـر کړه لـــه اُسـتـاده
مـخـتـصــر دا تـعـارف دَ عبداللّـــهؓ دے
زمـونـږ دلتـــه رهـنـمـا دے مقـتـدا دے

........................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

.....................منقبت نمبر 51.....................

ذکـر چـي کیـږی خـلفاء کښي پـه اول نمبر دے
اے مـؤمـنـانـو ! اولیـاء کښـي پـه اول نمبر دے
ثَـانِـیَ الـثُّـنَـیْـن سـره ئـي ذکر په قرآن کښي کیږی
ذکـر د دوی پـه ډیـر ادب پـه ټـول جهـان کښي کیږی





ډیـر آیـاتـونـه ئـي دَ شـان پوره ښـکاره ګواه دی
ډیـر حـدیـثـونـه ئـي دَ شان پوره ښکاره ګواه دی
لـکـه دَ سـتـوری ئـي رڼا تـمام ژوندون دلـتـه کښـي
پیـروی اُوکـړه د دوی ، غـوارے کهٔ سکون دلـتـه کښي
بـیشـك ایـمـان کښـي پـه اول نمبر د دوی تذکره
لـکـه دَ مشك لـری عـنبر اثر د دوی تذکره
پـه اصـحـابوؓ کښي زیات غوره یارِ غار دَ نبی ﷺ
اعـلا اعـلا لـری خبـره یارِ غار دَ نبی ﷺ
هـغـه صـدیـقؓ پـه صـداقـت کښـي چي ثانی نهٔ لری
نـورانـی داسي پـه عـظـمت کښي چي ثانی نهٔ لری
دَ پـاك نبـی ﷺ سـره پـه هر مقام ووځـنګ پـه څنګ
د دیـن اسـلام پـه رنـګ کښـي ښهٔ پوره تمام وو رنګ
دَ هـر بـاطـل مـخالفت ئـي ښهٔ پـه جار کوُلو
ښـکـلـي حسیـن پـه نرمه نرمه دوی ګفتار کوُلو
خـوښ مـدیـنـه کښي هر طرف ته دَ انصار دَ ډلي
دَ مهاجرو ټـولـو مشـر دے سالار دَ ډلي
مـکـه د دوی وطـن د دوی دَ مشـرانو کلے
وطـن دَ ټـولـو مـهـاجرو مؤمنانو کلے
دَ پاك رسـول ﷺ نـه پـس خیـر البشر دَ دوی لقب
داسـي بـل څـوك دی قـدرمنده پـه عجم عرب؟
دوی پـه اسـلام قبـلـولو کښي اول نمبر موندلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي خوش نصیبه چي ئي در دَ پیغمبر ﷺ موندلے
صخر دَ نبی ﷺ دے، پلار دَ حضرت عائشي بی بی دے
په خپل ایمان، عشق و وفا سره پوره قوی دے
عشره مبشرهٌ کښي شمیر په دي دُنیا دلته کښي
صدیق دے هر یوه وینا کوی ریښتیا دلته کښي
لقب د دوی چي څنګ صدیق دے هر بشر پیژني
عتیق لقب د دوی تمام دا لر او بر پیژني
رتبه کښي دوی سره هیڅ څوك هم برابر نیشته دے
د دوی په شان دَ انبیاء نه پس بشر نیشته دے
نوم عبدالله لری ابوبکرٌ نامه لری دوی
اعلا اعلا حسینه ښکلي تذکره لری دوی
دا فضیلت تمام صفات دَ ابوبکر صدیقٌ
امتیازات دی کمالات دَ ابوبکر صدیقٌ
هر یو تحریر بره لیکلي ما احمد قوی دے
ددوی رضا سره راضی زمونږه خوږ نبی ﷺ دے

............................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرٌ

..................... منقبت نمبر 52 ..............

دوست دَ خوږ نبی ﷺ یار صدیق دے
دَ محبوب مدنی ﷺ یار صدیقٌ دے
دَ مکي تل فضا ورکوی ګواهي





هغه در ښهٔ اعلا ورکوی ګواهي
عشق سره حقیقي یار صدیق دے
دوست دَ خوږ نبی ﷺ یار صدیق دے
دَ عمرٌ سره مَل، دَ عمرٌ مقتدا
خلیفه دے اول، ورپسے عمرٌ بیا
دَ عثمانٌ او علیٌ یار صدیقٌ دے
دوست دَ خوږ نبی ﷺ یار صدیق دے
ثاني اثنین سره یاد په قرآن کښي
صاحب اول دلته، دین په ایمان کښي
په وجود ښهٔ قوی یار صدیقٌ دے
دوست دَ خوږ نبی ﷺ یار صدیق دے
مقتدا دَ امت، مقتدی دَ نبی ﷺ
دا جهان، دا مخلوق ورکوی ګواهي
مقتدا، مقتدی یار صدیقٌ دے
دوست دَ خوږ نبی ﷺ یار صدیق دے
په صفت ښهٔ کامل په سیرت بهترین
اے احمده! تمام په صورت ښهٔ حسین
زیات له هر چا سخی یار صدیق دے
دوست دَ خوږ نبی ﷺ یار صدیق دے

............................................................

★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

..................منقبت نمبر 53..................

جانثار دَ مصطفیٰ ﷺ صدیقؓ سیّدالبشر
یارِ غار دَ مصطفیٰ ﷺ ځما ځان ، ځما دلبر
عاشقان لری ډیر ډیر هرطرف ته په عالم
عاشقان لری ډیر ډیر په عرب او په عجم
تابعدار ﷺ دَ مصطفیٰ ﷺ پوره پوره په هردر
یارِ غار دَ مصطفیٰ ﷺ ځما ځان ، ځما دلبر
اسلام دوی نه پس شو ښور ، ابتدا په دوی سره
کلام دوی نه پس ښور ، نوررنا په دوی سره
مؤمنانو کښې تمام اول دوی لری نمبر
یارِ غار دَ مصطفیٰ ﷺ ځما ځان ، ځما دلبر
لاثانی په صداقت ، دَ معراج حق واقعه
لاثانی په هر صفت ،لری اعلا تذکره
صادق یار دَ مصطفیٰ ﷺ رڼا ستورې منوَر
یارِ غار دَ مصطفیٰ ﷺ ځما ځان ، ځما دلبر
امامت ئې په نصیب دَ اصحابوؓ دَ نبی
وریسے وو مقتدیان دَ عثمانؓ سره علیؓ
داسې شان لری بالا ، رهبرانو له رهبر
یارِ غار دَ مصطفیٰ ﷺ ځما ځان ، ځما دلبر
تاج په سر دَ خلافت، وریسر کړلو اصحابؓ





جمع ټوله دَ امت ، محافظ دَ حق کتاب
وفادار دَ مصطفیٰ ﷺ دا جهان تمام خبر
یارِ غار دَ مصطفیٰ ﷺ ځما ځان ، ځما دلبر
په حجره کښې دَ نبی ﷺ اے احمده ! په سکون
برابر لری اعلا هلته ښه ښکلې ژوندون
دوست دلدار دَ مصطفیٰ ﷺ مل ورسره دے عمرؓ
یارِ غار دَ مصطفیٰ ﷺ ځما ځان ، ځما دلبر

.................................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

..................منقبت نمبر 54..................

ښۀ غوره دے افضل دے یارِ غار په صحابهؓ کښې
کامل دے مکمل دے یارِ غار په صحابهؓ کښې
په هر قدم دوی کړې دَ نبی ﷺ سره وفاده
په هر قدم تل کړې دَ آقا ﷺ دوی اقتداده
عظیم په هر عمل دے یار غار په صحابهؓ کښې
ښۀ غوره دے افضل دے یارِ غار په صحابهؓ کښې
تصدیق سره صدیقؓ شولو دَ پاك نبی ﷺ دلته
په یوفرمان عتیق شولو دَ پاك نبی ﷺ دلته
نزدې دَ نبی ﷺ خپل دے یارِ غار په صحابهؓ کښې
ښۀ غوره دے افضل دے یارِ غار په صحابهؓ کښې
ملګرې دَ حضور ﷺ سره هجرت کښې برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري دَ حضورﷺ سره هرخوا په هرسفر
تابع دَ نبی ﷺ تل دے یارِ غار په صحابهٌ کښې
ښۀ غوره دے افضل دے یارِ غار په صحابهٌ کښې
چې ذکر دَ نبی ﷺ نه پس کیږی دَ خلافت
چې ذکر دَ نبی ﷺ نه پس کیږی دَ امامت
نو دلته کښې اول دے یارِ غار په صحابهٌ کښې
ښۀ غوره دے افضل دے یارِ غار په صحابهٌ کښې
دَ اُم المؤمنین دَ عائشې بی بیؓ والد
مقصود هم دَ نبی ﷺ هم دَ نبی هغه قاصد
دَ هر مسئلې حل دے یار غار په صحابهٌ کښې
ښۀ غوره دے افضل دے یارِ غار په صحابهٌ کښې
مئین په هغه ډیر دی مؤمنان ددې جهان
مئین په هغه ډیر دے دا احمد هم دَ مردان
مبارك په هر پَل دے یارِ غار په صحابهٌ کښې
ښۀ غوره دے افضل دے یارِ غار په صحابهٌ کښې

..........................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

..................منقبت نمبر 55..................

صدیقِ اکبرؓ په ټولو کښې اول خلیفه دے
په ټولو صحابوٌ کښې ښۀ افضل خلیفه دے
هجرت کښې دَ حضورﷺ سره ملګري څنګ په څنګ





دَ دین دَ شریعت په ښکلی رنګ سره ښۀ رنګ
کامل ښۀ په اخلاقو مکمل خلیفه دے
په ټولو صحابوٌ کښې ښۀ افضل خلیفه دے
دَ غار ثور ملګري دَ حضورﷺ سره پوره
سیرت ئې نورانی دے ، دوی په نُور سره پوره
کامله په وفا هم په عدل خلیفه دے
په ټولو صحابوٌ کښې ښۀ افضل خلیفه دے
دَ حضرت عائشې بی بیؓ دا والد محترم
نبیانو نه پس غوره په عرب هم په عجم
دَ ټولو علاقو په هر محل خلیفه دے
په ټولو صحابوٌ کښې ښۀ افضل خلیفه دے
شمیر شوي هغوی دلته په عشره مبشرهٌ کښې
عظیم مقام لرونکے هغوی ټولو صحابهٌ کښې
جُدا مقام لرونکي له ازل خلیفه دے
په ټولو صحابوٌ کښې ښۀ افضل خلیفه دے
یاد شوي په لقب سره هر خوا ته په صدیق
یاد شوي په لقب سره هر خوا ته په عتیق
د ډیر زیات قدرمند عالی نسل خلیفه دے
په ټولو صحابوٌ کښې ښۀ افضل خلیفه دے
قریش سره نسبت لری ځکه دے قریشی
احمده! ډیر زیات خوښ زمونږه دلته دَ نبی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دینداره پرهیزګاره زمونږ خپل خلیفه دے
په ټولو صحابوؓ کښې ښۀ افضل خلیفه دے

..............................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

....................منقبت نمبر 56....................

دا چې صدیق اکبرؓ دے
شان ئې لوئې لکه دَ غر دے
په اول دے خلفاء کښې
داسې یاد دے په دُنیا کښې
عشره مبشرهؓ کښې
شمیر په ښکلې ګلدسته کښې
څنګ په څنګ دَ خوږ نبیﷺ وو
مینه عشق ئې حقیقی وو
هم په بیعتِ رضوان کښې
د دوی ذکر په قرآن کښې
مزه خوند ئې تذکره کښې
ښۀ اعلا په صحابهؓ کښې
صداقت کښې ډیر اُوچت دے
رهنما د ټول اُمت دے
دَ عتیق په لقب یاد دے
دَ صدیق په لقب یاد دے





لور ئې دَ نبیﷺ زوجه ده
عائشه ده صدیقه ده
پاك نبیﷺ سره په خوا کښې
ن آرام کړی په دُنیا کښې
عبدالله د دوی نامه ده
ښه خوږه ده ښۀ پسته ده
په ابوبکرؓ یادیږی
چې ئې ذکر کله کیږی
ستا احمده! تل امام دے
خوږ شیرین صفت کلام دے

..............................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

....................منقبت نمبر 57....................

ت کښې غوره غوره په جهان صدیق اکبرؓ
ثانی په غارِ ثور کښې دَ جانان ﷺ صدیق اکبرؓ
پخپله پاك حضورﷺ په مصله دے اُودرولے
داسې اُوچت لرونکے اُوچت شان صدیق اکبرؓ
دَ امّ المؤمنین دَ عائشې بی بیؓ بابا دے
اُمت لره غمخوار دے مهربان صدیق اکبرؓ
نمبر دَ خلافت لری په ټولو کښې اول
منلے دے اصحابوؓ ښه عیان صدیق اکبرؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمرؓ ئې قدردان دے هم علیؓ ئې پیروکار
محبوب دَ محمد اٰخرزمان ﷺ صدیق اکبرؓ
احمدعلی مدام دَ دوی دفاع ته دے تیار
حصه زمونږ دَ ټولو دَ ایمان صدیق اکبرؓ

................................................................

## شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

.....................منقبت نمبر 58.....................

رهبر دَ ټول عوام صدیق اکبرؓ
کامل زمونږ امام صدیق اکبرؓ
قریش ، بنوتمیم لره عزت
مشر لوئې دَ خپل قام صدیق اکبرؓ
نور هر قسمه خبرې وروستو بیادی
دوست دَ خیر الانام ﷺ صدیق اکبرؓ
دَ غارِثور ملګرې دَ حضور ﷺ
هجرت کښې ګام په ګام صدیق اکبرؓ
په نُور سره کامل دَ پاك حضور ﷺ
اُوچت عالی مقام صدیق اکبرؓ
خوښه پسته نامه ئې عبدالله
کړۀ یاد په احترام صدیق اکبرؓ
له ټولو مقدم دے په دُنیا کښې
راوړونکې دَ اسلام صدیق اکبرؓ





دَ پاك نبی ﷺ سیرت اُوګوره ټول
مَل دَ حضور ﷺ مدام صدیق اکبرؓ
بابا دَ عائشې بی بیؓ زمونږه
ذاکر په هر اندام صدیق اکبرؓ
خالق ته په سجدو،رکوع خوشحاله
خوشحاله په قیام صدیق اکبرؓ
اغیارونه، له شیطان نه لرے لرے
مات کړی ډیر اصنام صدیق اکبرؓ
خوږه پسته ئې ژبه هر مؤمن له
شیرین صفت کلام صدیق اکبرؓ
خدمت ته دَ حضور ﷺ مدام تیار
حضور ﷺ ته لاس په نام صدیق اکبرؓ
عمرؓ عثمانؓ علیؓ وریسے ټول
پیشوا دَ خاص وعام صدیق اکبرؓ
دَ صدق اود وفا نوم علامت
یادیږی به مدام صدیق اکبرؓ
حضور ﷺ ورته وئیلې جنتی
لائق دَ هر انعام صدیق اکبرؓ
یو ستوري په اسمان دَ نور رڼا
احمده! ښه تمام صدیق اکبرؓ

................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شان سیّدنا صدیق اکبرؓ

## ....................منقبت نمبر 59....................

دوست ښهٔ په جار دَ نبی ﷺ
تل پیروکار دَ نبی ﷺ
اعلا نسب سره دوی
بالا نسب سره دوی
پیدا دی په مکه کښې
عظیمه قبیله کښې
دوی قریشی په نسب
دی تمیمی په نسب
ورته صدیقؓ وائی ټول
دوست رفیق وائی ټول
مُبشره عشرهؓ
لری ټوله عشرهؓ
غوره تمام اصحابؓ کښې
ذکر لری کتاب کښې
اول په خلفاء کښې
امام په اولیاء کښې
دَ مؤمنین خلیفه
ډیر بهترین خلیفه
ایمان کښې دوی دی اول





جهان کښې دوی دی اول
ستوري دَ نور تمام دے
امام دَ خاص او عام دے
عائشهؓ د دوی ده لور
ګرانه ده په حضور ﷺ
هجرت کښې مَل دَ نبی ﷺ
ملګري تل دَ نبی ﷺ
ښکلي دَ غار ملګري
بل دَ مزار ملګري
په عبدالله نامه دوی
یاد په اعلا نامه دوی
سیرت ئي ښکلي تمام
د دوی عظمت ته سلام
احمد ئي تل یادوُی
په هر محل یادوُی

..................................................

# شان فاروقِ اعظمؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 60 ..........

دا چي حضرت عمرؓ دے
دا زمونږ دَ نبی ﷺ صخر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشره مبشره ؓ کښې
شمیر په اعلا صحابهٔ ؓ کښې
دویم نمبر په خلافت کښې
دَ امت په امامت کښې
مهاجر په صحابهٔ ؓ کښې
خوند د دوی په تذکره کښې
دَ فاروق په لقب یاد دے
دَ اُمت عظیم اُستاد دے
ابوحفص یې کُنیت دے
نوم، مقام د دوی اُوچت دے
خاندان یې قریشی دے
خوښ ښهٔ ډیر دَ خور نبی ﷺ دے
قبیله ئې ښهٔ درنه ده
حنتمه ئې والده ده
دَ والد نوم ئې خطاب دے
عمر ؓ څوك دے ؟ لاجواب دے
لور دَ دوی اعلا درنه ده
اُم المؤمنین حفصه ؓ ده
نوم دَ ځوئې ئې عبدالله دے
دَ علم په نُور رڼا دے
بل عاصم ، عبیدالله دے





بیل مقام د دوی جُدا دے
خور ملګرې دَ حضور ﷺ دے
ټول سیرت لرونکے نُور دے
جنتی دے جنتی دے
ډیر اعلا دروند صحابی ؓ دے
عدل کوُل ئې تل صفت دے
دوی موندلے شهادت دے
دَ حضور ﷺ سره په خوا کښې
نن آرام کړی په دُنیا کښې
شان زمونږ دَ دین اسلام دے
دَ عمر ؓ اُوچت مقام دے
رڼا ستوري په وجود دے
خوښ ښهٔ ډیر دَ ربّ معبود دے
رڼا ستوري دَ اسمان دے
مئین ډیر زیات په قرآن دے
شیطان دوی نه تختیدلو
شیطان دوی نه یریدلو
د دوی سوچ سره قرآن
نازل کړے پاك سبحان
رڼا ستوري ښهٔ تمام دے
احمده! زمونږ امام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................

# شان فاروقِ اعظمؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 61 ..........

عمرؓ صديقؓ پسے نمبر کښې خلافت والا
عادله داسې چې مشهور په عدالت والا
بنده تمامه دروازه دَ نبوت ټولو له
بنده تمامه دروازه دَ رسالت ټولو له
عمرؓ به وے که ماپسے وِے نبوت والا
عمرؓ صديقؓ پسے نمبر کښې خلافت والا
پخپله سيدالابرار ﷺ دا فرمائيلی دلته
پخپله سيدالابرار ﷺ ښکاره وئيلی دلته
داسې اعلیٰ دے په دُنيا کښې فضيلت والا
عمرؓ صديقؓ پسے نمبر کښې خلافت والا
مشر دَ ټولو مؤمنانو په صديقؓ پسے دے
مشر دَ ټولو امامانو په صديقؓ پسے دے
ستوري دُنيا کښې دَ رڼا دے هدايت والا
عمرؓ صديقؓ پسے نمبر کښې خلافت والا
يريږی دوی نه شيطانان دَ جهان دلته تمام
يريږی دوی نه کافران دَ جهان دلته تمام
اعلا مقام لرونکې دلته دے عظمت والا





عمرؓ صديقؓ پسے نمبر کښې خلافت والا
حفصهؓ ئې لور ده چې زوجه دَ پيغمبرؓ دلته ده
هر يوادائې ملغلره، معتبر دلته ده
لکه لعلونه په دُنيا کښې هر صفت والا
عمرؓ صديقؓ پسے نمبر کښې خلافت والا
دَ حق باطل په مينځ کښې فرق دوی مدام کړے دے
دَ هر باطل سره جنګ دوی په هر مقام کړے دے
په خلفاء کښې دے ورومي هم شهادت والا
عمرؓ صديقؓ پسے نمبر کښې خلافت والا
احمد ئې دلته کښې مداح په هر مقام ځکه دے
سبب هر خواته دَ عروج دَ دين اسلام ځکه دے
اوصاف ئې ډيردی جنتي، زيرې جنت والا
عمرؓ صديقؓ پسے نمبر کښې خلافت والا

........................................................

# شان فاروقِ اعظمؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 62 ..........

ښکلي په دُنيا عظيم انسان عمرؓ
ګران راته له هر چا نه جانان ﷺ عمرؓ
مَل دَ خپل آقا ﷺ سره په هر قدم
مَل، ملګري دَ رسول اللّه ﷺ دَ غم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَل حضور ﷺ سره په هر میدان عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
نه لري په زړۀ یره اغیارو نه
نه لري په زړۀ یره کفارو نه
داسي لري دلته اُوچت شان عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
زیات هغه له هر چانه په دین مئین
هغوی دَاسلام په رڼا بهترین
دُعا دَ نبی اٰخرزمان ﷺ عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
شیطانانو له دوی نه یریدل تمام
زړۀ کښي ددوی مینه وه دَ حق کلام
ښۀ اعلا بالا لرو بیان عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
دویم دَ مؤمنانو خلیفه حاکم
لوئي وو دَ قراٰن او دَ سنت عالم
موافق دَ سوچ سره قراٰن عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
ډیري علاقي دوی فتح کړي دي
ډیر زیات ثوابونه دوی ګټلي دي
وجود دَ عمرؓ، کرم احسان عمرؓ





ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
مَل دَ مکي زمکه کښي آقا ﷺ سره
مَل په مدینه کښي مصطفیٰ ﷺ سره
مَل حضور ﷺ سره په هر مکان عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
ژوند کښي مینه مینه په هرخوا لري
ژوند کښي دَ نبی ﷺ هره ادا لري
ښۀ بالا لرونکي خاندان عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
حق وینا کوُنکي دے خوږه وی هم
کلکه کله دا وینا ترخه وی هم
څکه دَانصاف لري میزان عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
ژوند دَ سادګي ئي نمونه مثال
ژوند دَ بندګي ئي نمونه مثال
ژوند لري سیرت تمام روښان عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ
زیري ورله دلته دَ جنت ښکاره
پاك حضور ﷺ سره لري قُربت ښکاره
شهادت لرونکي حکمران عمرؓ
ګران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ

مدحه دَ عمرؓ کوُم په شوق سره
ذکر دَ دلبر کوُم په شوق سره
ژوند لره احمده ! اطمینان عمرؓ
گران راته له هر چانه جانان ﷺ عمرؓ

..................................................

## شان فاروقِ اعظمؓ

### ..........منظوم کلام نمبر 63 ..........

رهنما مقتداتل زما دے عمرؓ
په سیرت ښهٔ کامله رښا دے عمرؓ
دَ انصاف فیصلې دوی مدام کړی دی
دَ انصاف فیصلې دوی تمام کړې دی
عدالت سره یاد په هرخوا دے عمرؓ
په سیرت ښهٔ کامله رښا دے عمرؓ
دَ صدیقؓ نه پس دوی خلیفه دَ امت
دَ فلاح په هر لوروسیله دَ امت
هر صفت سره بیل ښهٔ بالا دے عمر
په سیرت ښهٔ کامله رښا دے عمرؓ
نیم دولت ئې دَ کور پیغمبر ﷺ ته کړهٔ پیش
مال دولت ئې دَ کور خپل دلبر ته کړهٔ پیش
سخی زیات په جهان له هر چا دے عمرؓ





په سیرت ښهٔ کامله رښا دے عمرؓ
دَ نبی ﷺ په صحبت صحابی دَ نبی ﷺ
زیرې سره دلته دَ نبی ﷺ جنتی
سخت اغیار لره تل په دُنیا دے عمرؓ
په سیرت ښهٔ کامله رښا دے عمرؓ
په نبی ﷺ وو عاشق، گواهان ئې ښهٔ ډیر
احمده ! څکه نن عاشقان ئې ښهٔ ډیر
ښهٔ اعلا لا مثال دَ وفا دے عمرؓ
په سیرت ښهٔ کامله رښا دے عمرؓ

..................................................

## شان فاروقِ اعظمؓ

### ..........منظوم کلام نمبر 64 ..........

رهنما دَ جهان دے حضرت عمرؓ
عالیشان عالیشان دے حضرت عمرؓ
په ما گران په ما گران دے حضرت عمرؓ
عالیشان عالیشان دے حضرت عمرؓ
رهنما دَ هرچا حقیقت دا تمام
رهنما په هرخوا حقیقت دا کلام
قدردان قدردان دے حضرت عمرؓ
عالیشان عالیشان دے حضرت عمرؓ



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیشوا دَ امت ، صحابی دَ نبی ﷺ
دَ انصاف عدالت ، جنتی جنتی
ښهٔ عیان ښهٔ عیان دے حضرت عمرؓ
عالیشان عالیشان دے حضرت عمرؓ
خلیفه دَ اُمت دویم نمبر سره دے
هر طرف ته مدام پیغمبر ﷺ سره دے
ترجمان دَ قرآن دے حضرت عمرؓ
عالیشان عالیشان دے حضرت عمرؓ
سخاوت سره یاد ، شجاعت سره یاد
حق وینا دَ احمد دروند سیرت سره یاد
تل جانان دَ جانان ﷺ دے حضرت عمرؓ
عالیشان عالیشان دے حضرت عمرؓ

..................................................

# شان فاروقِ اعظمؓ

## ...........منظوم کلام نمبر 65

مَل دَ خوږ نبی ﷺ عمر فاروقؓ دے
صفتی صفتی عمر فاروقؓ دے
عمر فاروقؓ دے صحابیؓ دَ نبی ﷺ
مَل دَ خوږ نبی ﷺ ابدی ابدی
دَ حضور ﷺ مقتدی عمر فاروقؓ دے





مَل دَ خوږ نبی ﷺ عمر فاروقؓ دے
شجاعت دَ هغوی دَ کمال دکمال
په وجود سره تول بهترین بې مثال
ښهٔ مضبوط ښهٔ قوی عمر فاروقؓ دے
مَل دَ خوږ نبی ﷺ عمر فاروقؓ دے
عدالت دَ هغوی مثالی دَ جهان
مثالی دَ هغوی بندګی دَ رحمٰن
محبوب دَ مدنی ﷺ عمر فاروقؓ دے
مَل دَ خوږ نبی ﷺ عمر فاروقؓ دے
هر شیطان له خنجر یا دَ توري ګُزار
هر شیطان له خنجر ، په شیطان باندې وار
په نسب قریشی عمر فاروقؓ دے
مَل دَ خوږ نبی ﷺ عمر فاروقؓ دے
مَل دَ خوږ نبی ﷺ دَ اُحد دَ بدر
په روضه باندې ستا به مدام وی نظر
چې سلام څوك كوی عمر فاروقؓ دے
مَل دَ خوږ نبی ﷺ عمر فاروقؓ دے
په اسلام مئین ، په جانان ﷺ مئین
اے احمده ! عمرؓ په قرآن مئین
جلالی ، غیرتی عمر فاروقؓ دے
مَل دَ خوږ نبی ﷺ عمر فاروقؓ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



....................................................

## شان فاروقِ اعظمؓ

### ..........منظوم کلام نمبر 66 ..........

خليفه، صحابي دَ خيرالبشر ﷺ
عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ
له چانه يريږي چې ابليس تل
له چانه پټيږي چې ابليس تل
په کور کښې دننه، له کوره بهر
عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ
دَ عدل صفت سره ياد مدام
په هريو صفت سره کامل تمام
په گفتار کښې لري ډير زيات اثر
عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ
دَ چا دَ ايمان چې نبي ﷺ کړے سوال
دَ چا چې وو خرچ دَ مولیٰ لار کښې مال
دَ چا چې په کفر غصه وه قهر
عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ
دَ چا چې په خنگ کښې نبي کړي ارام
دَ چا چې شوه رائے دَ رب حق کلام
ښهٔ اعلا لره، چا چې پوهه نظر





عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ
دَ چا چې دَ ژوند وه حصه سادگی
دَ چا چې وه ښکلې اعلا زندگی
دَ چا چې صفت وو احمده! زړهٔ ور
عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ دے عمرؓ

....................................................

## شان فاروقِ اعظمؓ

### ..........منظوم کلام نمبر 67 ..........

دَ دين دَ شريعت علمبدار عمرؓ دے
ددين سره مخلصه وفادار عمرؓ دے
دُنيا کښې هر بشر ته مسلمان ته ده پته
اغيارو ته معلومه ده، جهان ته ده پته
دَ سيدالوریٰ ملگري يار عمرؓ دے
ددين سره مخلصه وفادار عمرؓ دے
هجرت د هغوی دلته کښې په جاروهٔ له مکې
روان چې له مکې نهٔ وهٔ په لور دَ مدينې
يَو خوف اويره دلته په کُفار عمرؓ دے
ددين سره مخلصه وفادار عمرؓ دے
دَ حق سره ملگري د دُنيا په هر مقام
مئين پوره پوره په شريعت په دين اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددین دَ حفاظت ښکلي حصار عمرؓ دے
ددین سره مخلصه وفادار عمرؓ دے
غوښتلي دے نبی ﷺ له ربّ نه دلته کښي په جار
مولیٰ! چي عمرؓ جوړ شی دَ اسلام مددګار
دُعا دَ مُرسلانو دَ سردار ﷺ عمرؓ دے
ددین سره مخلصه وفادار عمرؓ دے
په بدر په اُحد کښي خوږ نبی ﷺ سره په څنګ
اغیار سره ، باطل سره ، کُفار سره په جنګ
په اَمر دَ نبی ﷺ په کښي سالار عمرؓ دے
ددین سره مخلصه وفادار عمرؓ دے
دُنیا کښي ورته زیري دَ جنت دَ جنتی
زیري ورله ورکړي په دُنیا کښي خوږ نبی ﷺ
دُنیا کښي دَ مظلوم سړی پکار عمرؓ دے
ددین سره مخلصه وفادار عمرؓ دے
دُنیا کښي د دوی خوښه په هرلور وه سادګی
دُنیا کښي د دوی خوښه په هر لور وه عاجزی
منبر باندي کوُونکي حق ګفتار عمرؓ دے
ددین سره مخلصه وفادار عمرؓ دے
احمده ! په صدیقؓ پسے امیر المؤمنینؓ
سیرت سره کامله ډیر حسین بهترین
نبی ﷺ سره ملګري په مزار عمرؓ دے





ددین سره مخلصه وفادار عمرؓ دے

..................................................

## شان فاروقِ اعظمؓ

### ..........منظوم کلام نمبر 68 ..........

د دین دَ شریعت علمبردار دے عمرؓ
باطل باندي دَ توري سَم ګُزار دے عمرؓ
مکه کښي دَ مکي خلقو ته دا ښۀ ده پته
دَ ټولي مدیني خلقو ته دا ښۀ ده پته
نبی ﷺ سره مخلصه وفادار دے عمرؓ
د دین دَ شریعت علمبردار دے عمرؓ
شیطان تختی پټیږی مخامخ نه راځی دوی ته
کُفار تمام یریږی مخامخ نه راځی دوی ته
ختمولو ته دَ شر مدام تیار دے عمرؓ
د دین دَ شریعت علمبردار دے عمرؓ
اسباب ورسره ټول وو دَ فلاح دلته تمام
سبب دَ ترقی دَ پاره جوړ شو دَ اسلام
اثر دَ دعاګانو دَ غمخوار ﷺ دے عمرؓ
د دین دَ شریعت علمبردار دے عمرؓ
په جار باندي هجرت دَ مدیني په طرف کړی
داسي په کائنات کښي شجاعت دلته لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ تپولو مؤمنانو مددګار دے عمرؓ
ددين دَ شريعت علمبردار دے عمرؓ
هريوه فيصله ئې اسلام موافق
دَ دين دَ شريعت پوره تمام موافق
مفتی ، اعلیٰ قاضی ، کامل هوښيار دے عمرؓ
ددين دَ شريعت علمبردار دے عمرؓ
دَ عدل دَ انصاف ئې مثالونه دلته دی
خبرې ئې تمامې سَم لعلونه دلته دی
له کفر شرك نه هرخواته بيزار دے عمرؓ
ددين دَ شريعت علمبردار دے عمرؓ
دُنيا کښې دَ نبی ﷺ صادقه يار په هر قدم
دَ سيّدالابرار ﷺ پهره دار په هر قدم
په دين باندې په تپول وجود نثار دے عمرؓ
ددين دَ شريعت علمبردار دے عمرؓ
نمبر په خلافت کښې لری دويم په دې دُنيا
نمبر په امامت کښې لری دويم ښکاره صفا
امير المؤمنين دے، سردار دے عمرؓ
ددين دَ شريعت علمبردار دے عمرؓ
دُنيا کښې دَ جنت زيرې لرونکې دے ښکاره
احمده ! دَ محبوب ﷺ پوره منونکې دے ښکاره
صالحه دے ، عابد ے ، پرهيزګار دے عمرؓ





ددين دَ شريعت علمبردار دے عمرؓ

........................................................

# شان فاروقِ اعظمؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 68 ..........

خوږه ډيره شيرينه تذکره دَ عمرؓ ده
دُنيا کښې ډيره لويه مرتبه د عمرؓ ده
سکون ورسره مَل پوره پوره په آخرت
نصيب ورته دُنيا کښې ښۀ اعلا دا سعادت
په خوا کښې دَ رسول ﷺ سره روضه دَ عمرؓ ده
دُنيا کښې ډيره لويه مرتبه د عمرؓ ده
دَ بدر دَ احد ميدان ګواه په دې خبره
عرب کښې هغه در مکان ګواه په دې خبره
په کفر په باطل باندې حمله دَ عمرؓ ده
دُنيا کښې ډيره لويه مرتبه د عمرؓ ده
شيطان به رپيدلو ، تختيدلو تل له دوی
مشرك به يريدلو ، تختيدلو تل له دوی
دُنيا کښې داسې دلته دبدبه دَ عمرؓ ده
دُنيا کښې ډيره لويه مرتبه د عمرؓ ده
په پته به ئې حال معلومولو دَ عوامو
تپوس به ئې کولو له غريب خلقو تمامو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کُولاو هریو مظلوم ته دروازه دَ عمرؓ ده
دُنیا کښې ډیره لویه مرتبه د عمرؓ ده
دُنیا کښې ئې عدل مثالونه په هر لور
بل کړی ئې ددین دی مثالونه کور په کور
هریوه برابره قاعده دَ عمرؓ ده
دُنیا کښې ډیره لویه مرتبه د عمرؓ ده
تبوک دَ پاره اَمر چې جاری کړلو جانان ﷺ
دولت کړې راشے په دې لاره کښې قربان
صدیقؓ پسے دَ مال لویه صدقهؓ دَ عمرؓ ده
دُنیا کښې ډیره لویه مرتبه د عمرؓ ده
عابده ، پرهیزګاره ، وفاداره دَ نبی ﷺ
دُنیا کښې ورله زیرې دَ جنت دے جنتی
احمده !دَ اعمالو ښه صله دَ عمرؓ ده
دُنیا کښې ډیره لویه مرتبه د عمرؓ ده

..............................................

# شان فاروقِ اعظمؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 69 ..........

محبوب دَ محمد خیر الابرار ﷺ عمرؓ وو
ددین دَ شریعت علمبردار عمرؓ ووو
دَ چا چې په اسلام راوړلو دین شولو قوی





ورسره هم خوشحاله شو زمونږه خوږ نبی ﷺ
دَ هریو مسلمان دَ زړهٔ قرار عمرؓ وو
د دین دَ شریعت علمبردار عمرؓ ووو
رڼا دَ آسمان ستوری قدرمنده صحابیؓ وو
عالم وو پرهیزګاره متقی وو لوئې قاضی وو
خیر خوا دَ ټولو خلقو په هر دار عمرؓ وو
د دین دَ شریعت علمبردار عمرؓ ووو
پوره پوره دُنیا کښې مخالف دَ شیطانانو
دښمن په هر طرف دَ کافرانو مشرانو
په یو الله مئین وو پرهیزګار عمرؓ وو
د دین دَ شریعت علمبردار عمرؓ ووو
دَ بدر دَ اُحد دَ میدانونو ګواهی
خیبر یا دَ احزاب دَ خندقونو ګواهی
دفاع ته دَ محبوب پوره تیار عمرؓ وو
د دین دَ شریعت علمبردار عمرؓ ووو
صدیقؓ پسے نمبر کښې خلیفه دَ مؤمنانو
امام دَ صالحانو دَ تمامو امامانو
په هرځهٔ پوهیدلو ، ښهٔ هوښیار عمرؓ وو
د دین دَ شریعت علمبردار عمرؓ ووو
شمیر دلته کښې ددی دے په عشره مبشرهؓ کښې
احمده ! صحابیؓ دَ صحابهؓ په ګلدسته کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددین دفاع کوونکي وفادار عمرؓ وو
ددین دَ شریعت علمبردار عمرؓ ووو

..........................................................

# شان عثمان ذوالنورینؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 70

دا چي حضرت عثمانؓ دے
یاد په جامعُ القرآن دے
عشره مبشرهؓ کښي
یاد په اعلا صحابهؓ کښي
ربّ راضی دلته له دوی نه
دا مفهوم ثابت وحی نه
ولادت ئي په مکه کښي
بیا تدفین ئي مدینه کښي
دَ حضورﷺ ښکلي صحبت کښي
دریم نمبر په خلافت کښي
مهاجر هم دَ حبشي دے
مهاجر دَ مدیني دے
دولس کاله خلافت ئي
دومره وخت دَ امامت ئي
جنتی دے جنتی دے





دا بیان تړول دَ نبیﷺ دے
رُقیهؓ دَ دوی نکاح کښي
ښځهٔ زوجه د دوی نکاح کښي
خاوند دَ اُمِ کلثومؓ
دا هر چا ته ښځهٔ معلوم
څووم زمونږ دَ پیغمبرﷺ دے
څنګه چي علی حیدرؓ دے
خوند د دوی په تذکره کښي
دَ سیرت هره حصه کښي
ذوالنورین د دوی لقب دے
قریشی د دوی نسب دے
بیا په بنو اُمیه کښي
دَ عرب په قبیله کښي
تذکره په هر مکان
تل به کیږی دَ عثمانؓ
تل دَ حضرت عثمانؓ ده
دَ حضورﷺ قاصد سفیر دے
دَ حیا حسین تصویر دے
سخی ډیر زیات له هر چانه
حق پرسته ، عالیشانه
عاشق ډیر زیات په قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سنت په لار روان
ستوري نور دَ هدایت دے
دوی موندلے شهادت دے
خنگ په خنگ دَ خوږ نبی ﷺ وو
خنگ چې حضرت علیؓ وو
نیم ژوندون د دوی مکه کښې
نیم ژوندون ئې مدینه کښې
دا وینا تمام ریښتیا ده
حق احمد لیکلي دا ده

.................................................

## شان عثمان ذوالنورینؓ

..........منظوم کلام نمبر 71..........

عثمانؓ په شان به وی څوک دلته سخاوت والا
داسې مالداره صحابهؓ کښې بل دولت والا
چا چې خپل مال د دین په لاره کښې ورکړے دے ډیر
چا چې خپل مال د دین دَ پاره قربان کړے دے ډیر
هغه بشر، هغه انسان ډیر محبت والا
عثمانؓ په شان به وی څوک دلته سخاوت والا
چاته چې دلته کښې مخلوق ډیر زیات نرم وئیلے
چاته چې جامع القرآن عرب عجم وئیلے





جمع کوُنکې دَ قرآن ، اعلا خدمت والا
عثمانؓ په شان به وی څوک دلته سخاوت والا
څوک چې یادیږی دَ غنی په لقب دلته مدام
څوک چې یادیږی دَ سخی په لقب دلته مدام
زیري لرونکي په دُنیا کښې دے جنت والا
عثمانؓ په شان به وی څوک دلته سخاوت والا
دَ ذوالنورین په لقب یاد په کتابونو کښې دے
دَ ذوالنورین په لقب یاد په محفلونو کښې دے
څووم دَ نبی ﷺ، صبر کوُونکې، شهادت والا
عثمانؓ په شان به وی څوک دلته سخاوت والا
احمده! دلته چې صدیقؓ او په عمرؓ پسے وو
روان په لار چې دَ نبیانو خوږ افسر ﷺ پسے وو
دریم په نمبر کښې په ترتیب دي خلافت وال
عثمانؓ په شان به وی څوک دلته سخاوت والاا
ورسره مینه لرم ، مدحه دَ هغوی به کوم
مدحه ورسره دَ صدیقؓ ، عمرؓ ، علیؓ به کوم
احمده! ډیر زیات حیاداره ، عبادت وال
عثمانؓ په شان به وی څوک دلته سخاوت والاا

.................................................

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شان عثمان ذوالنورینؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 72

خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے
څوك دے ؟ څوك دے؟ دَ عثمان غنیؓ تصوير دے
ذوالنورين سره يادیږی په لقب
ښۀ اعلیٰ بالا لرونکي دے نسب
نرم خويه دے اعلیٰ په هر تقرير دے
خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے
پرهيزګاره ، ښۀ ديندارہ، حياداره
نيغه لاره په دُنيا کښې د دوی لاره
دَ صديقؓ ، عمرؓ ملګرے دے مُشير دے
خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے
وفاداره دَ نبی خيرالانامﷺ دے
خوشبوداري طريقې سره مدام دے
ښۀ پوره بيداره په ضمير دے
خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے
مددګار دَ هر مظلوم د هر غريب دے
دريم نمبر ئې خلافت کښې په ترتيب دے
مؤمنانو لره مشر دے امير دے
خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے





چې ئې کړې دَ اسلام سره تل مينه
محمدﷺ خيرالانامﷺ سره تل مينه
دَ وليانو او پيرانو ټولو پير دے
خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے
چا چې جمع اياتونه دَ قرآن کړل
دغې کار له ئې راجمع کاتبان کړل
مفسّره پوره پوهه په تفسير دے
خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے
مدام ناسته دَ حضورﷺ سره محفل کښې
کړې دوی ده اعلا نُورﷺ سره محفل کښې
په صفاتو کمالاتو بې نظير دے
خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے
ډيره زياته قربانی ورکړې دوی ده
غوښتې کله چې له دوی نه مدنیﷺ ده
سوچ اعلیٰ لرونکې ، ښۀ بالا تدبير دے
خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے
شهادت ئې وو ارمان هغه پوره شو
مظلوم جوړ دَ مدينې په در کوڅه شو
ښۀ مالداره ، خوعاجزه خوئې فقير دے
خوش قسمته ، خوش نصيبه په تقدير دے
دې مُحسِن زمونږ دَ ټولو مؤمنانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ قرآن په دغي کار ، دَ عجمیانو
دَ حضور ﷺ دَ بیعت دا هغه سفیر دے
خوش قسمته ، خوش نصیبه په تقدیر دے
مدحه خوند کوی ددوی چي دلته تل وی
ورسره ښکلي حسین هریو محل وی
عاشقانو کښي احمده ! دَ خبیر دے
خوش قسمته ، خوش نصیبه په تقدیر دے

..........................................

## شان عثمان ذوالنورینؓ

### منظوم کلام نمبر 73 ..........

تذکره چي کله په دُنیا کښي دَ قرآن وی
ذکر خامخا به دَ عثمان ابن عفانؓ وی
چا چي جمع کړی دَ قرآن دا آیاتونه دی
جوړي سپارے دی ورسره جوړ منزلونه دی
هرکله چي ذکر ددي وحی په جهان وی
ذکر خامخا به دَ عثمان ابن عفانؓ وی
چا چي دَ رومه کوهي اخستي مومنانو له
دَ اُوبو دالویه وسیله وه انسانانو له
ذکر چي دَ هغي کوهي کله په میدان وی
ذکر خامخا به دَ عثمان ابن عفانؓ وی





څوک چي په تبوک کښي مددگار دَ مؤمنانو وو
دَ سامان سره خیرات کونکي دَ اُوښانو وو
هرکله چي دلته دَ تبوک کله بیان وی
ذکر خامخا به دَ عثمان ابن عفانؓ وی
چاته په نکاح اُمِ کلثومؓ او رُقیه چي وه
هریو دَ خوږ نبی ﷺ دَ تن بدن حصه چي وه
ذکر دَ لوریانو هرکله چي دَ جانان ﷺ وی
ذکر خامخا به دَ عثمان ابن عفانؓ وی
چانه فرشتو له چي ورتله دلته حیا مدام
چا چي دَ نبی ﷺ سره دلته کړي وفا مدام
ذکر چي ددي صفاتو هرکله عیان وی
ذکر خامخا به دَ عثمان ابن عفانؓ وی
دریم په خلافت کښي خلیفه دَ مؤمنانو دے
مشر دَ اصحابوؓ دَ ولیانو صالحانو دے
هرکله چي یاد هغه گلونه گلستان وی
ذکر خامخا به دَ عثمان ابن عفانؓ وی
دا هغه انسان دے بشارت چي دَ جنت لری
بیل مقام او نوم په هرطرف په سخاوت لری
هرکله چي ذکر دَ اخلاقو عالیشان وی
ذکر خامخا به دَ عثمان ابن عفانؓ وی
څوک چي ذوالنورین سره سفیر سره یاد شوي دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ غنـیؓ پـه لقـب ، ښـۀ تدبیر سره یاد شوي دے
کـلـه چـي ذکـر دَیـو عـادلـه خـوږ انسـان وی
ذکـر خـامـخـا بـه دَعثـمـان ابن عـفـانؓ وی
چـاتـه چـي ورکـړے ربّ مـولٰی دَشهادت مقام
چـاتـه چـي احـمـده! مـلاؤ شوي دَعزت مقام
هـرکـلـه چـي ذکـر دَبـره ستـورو آسمـان وی
ذکـر خـامـخـا بـه دَعثـمـان ابن عـفـانؓ وی

.............................................

## شان عثمان ذوالنورینؓ

### ..........منظوم کلام نمبر 74

پـه جنـت کښـي رفیـق دَ حضورﷺ دَنبـیﷺ
حـضـرت عثـمان غـنیؓ ، حـضـرت عثـمان غـنی
پـه صـدیـقؓ ، پـه عـمـرؓ پسـے وروستـو امـام
خـلـیـفـه مـقـرر دَ خـوَاص دَعـوام
پـه صـحبـت دَنبـیﷺ صـحـابـی صـحـابـی
حـضـرت عثـمان غـنیؓ ، حـضـرت عثـمان غـنی
دَحیـا پـه صـفـت لـه هـر چـانـه جُـدا
دَنبـیﷺ سـره تـل پـه هـر لـور کـړی وفـا
دَصـدیـقؓ ، دَعـمـرؓ پیـروکـار مـقتـدی
حـضـرت عثـمان غـنیؓ ، حـضـرت عثـمان غـنی





پـه حـضـورﷺ مـئیـن دا هـر چـا تـه پتـه
پـه قـرآن مـئیـن دي دُنیـا تـه پتـه
مثـالـی مثـالـی متـقـی متـقـی
حـضـرت عثـمان غـنیؓ ، حـضـرت عثـمان غـنی
ښـۀ بـالا پـه نسـب څـان خبـر کـړه پـه دي
ذوالـنـوریـن پـه لـقـب څـان خبـر کـړه پـه دي
دَمـکـي ولادت ، نـو مـکـي نـه مـکـی
حـضـرت عثـمان غـنیؓ ، حـضـرت عثـمان غـنی
مُـقـرَر ، مـنتـخـب لـه حـضـور نـه سفیـر
بهتـریـن خـطـیـب ، بهتـریـن پـه تـقـریـر
جـنتـی جـنتـی زیـري دَمـدنـیﷺ
حـضـرت عثـمان غـنیؓ ، حـضـرت عثـمان غـنی
دَرومـه دَکـوهـی جـوړ شـولـو خـریـدار
پـه اَمـر پـه حکـم دَ حـضـور ښـۀ پـه جـار
سـخـاوت سـره یـاد پـه لـقـب دے سـخـی
حـضـرت عثـمان غـنیؓ ، حـضـرت عثـمان غـنی
صـفـتـونـه اعـلا د دوی دلتـه تـمـام
اے احـمـده! عـاشـق دَمـولـٰی دَکـلام
زړۀ کښـي میـنـه لـری ، دَ قـرآن عـاشـقـی
حـضـرت عثـمان غـنیؓ ، حـضـرت عثـمان غـنی

.............................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شان عثمان ذوالنورینؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 75 ..........

ژوند لري سحر سحر عثمان غنيؓ
دروند لري نظر نظر عثمان غنيؓ
ژوند لري حیا حیا پوره تمام
ژوند لري وفا وفا پوره تمام
تن لري صبر صبر عثمان غنيؓ
دروند لري نظر نظر عثمان غنيؓ
ژوند لري خوشبو خوشبو پوره پوره
ژوند لري خوشبو خوشبو په هر حصه
ژوند لري شکر شکر عثمان غنيؓ
دروند لري نظر نظر عثمان غنيؓ
ژوند لري صفا صفا په هر محل
ژوند لري اعلا اعلا په هر محل
دروند لري تیر تیر عثمان غنيؓ
دروند لري نظر نظر عثمان غنيؓ
دوست لري صدیق صدیقؓ ،عليؓ ولي
دوست لري صفت سخي ،وجود قوي
دوست لري عمرؓ عمرؓ عثمان غنيؓ
دروند لري نظر نظر عثمان غنيؓ





عشق لري کامل پوره د حق کتاب
عشق لري پوره په تن دَ اصحابؓ
نه لري خَطَر خَطَر عثمان غنيؓ
دروند لري نظر نظر عثمان غنيؓ
ټول لري صفت تمام احمده! ښه
ټول لري سیرت تمام احمده! ښه
دوست لري هُنر هنر عثمان غنيؓ
دروند لري نظر نظر عثمان غنيؓ

.................................................

# شان عثمان ذوالنورینؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 76 ..........

ډیر سخي انسان عثمان غنيؓ
دَ میني عنوان عثمان غنيؓ
هغه مجسَم تمام حیا حیا
هغه په وجود سره وفا وفا
داسي لري شان عثمان غنيؓ
دَ میني عنوان عثمان غنيؓ
زیري ورله دلته دَجنت ښکاره
هریو دَجهان لري صفت ښکاره
کلك لري ایمان عثمان غنيؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ میني عنوان عثمان غنيؓ
ذوالهجرتین ښهٔ ښکلي لقب ددوی
مینه دَ جانان ﷺ سره مذهب ددوی
ډیر شیرین بیان عثمانِ غنيؓ
دَ میني عنوان عثمان غنيؓ
یاد په ذوالنورین لقب ،خطاب سره
کاتبِ قرآن دَ اصحابؓ سره
جامعُ القرآن عثمان غنيؓ
دَ میني عنوان عثمان غنيؓ
مداحان ښهٔ ډیر لري دلته په در
احمده! ځادر دَ عاجزي په سر
ژوند لري روښان عثمانِ غنيؓ
دَ میني عنوان عثمان غنيؓ

..................................................

## شان عثمان ذوالنورینؓ

**..........منظوم کلام نمبر 77**

دریم نمبر دَ اُمت خلیفه
دَ عثمان غنيؓ خوند کوی تذکره
کاتبِ وحی هم ، ذوالنورین په لقب
دا پهچان دوی لري په عجم په عرب





ملګري ورسره صحابهؓ صحابهؓ
دریم نمبر دَ اُمت خلیفه
دَ جنت بشارت ورله دلته کښي دے
اعلان دَ سعادت ورله دلته کښي دے
دَ صحبت دَ نبي ﷺ دا اثر نتیجه
دریم نمبر دَ اُمت خلیفه
زوم دَ خیر البشر ﷺ دائي بیل جدا شان
رنا ستوري رهبر دائي بیل جدا شان
دَ محشر ورسره دَ فلاح ده توښه
دریم نمبر دَ اُمت خلیفه
سخاوت او ایثار صفتونه ددوی
وفادار ، حیادار صفتونه د دوی
معطره لري دَ ژوندون هر حصه
دریم نمبر دَ اُمت خلیفه
په تبوك کښي صدقه دَدوی ډیره دَ مال
احادیث کښي بیان دَ غزوي تمام حال
وقف کړي دلته ، هغوی بئر رومه
دریم نمبر دَ اُمت خلیفه
په عمل دَ عثمانؓ ، رب راضي له هغه
په عمل عالیشان ، رب راضي له هغه
ورسره دَ میزان تله ډیره درنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم نمبر دَ اُمت خليفه
هر عمل دَ عثمانؓ دَ کمال دَ جمال
اے احمده! پوره ځان خبر کړه په حال
دَ نبی ﷺ دَ رضا ذريعه وسيله
دريم نمبر دَ اُمت خليفه

..............................................

# شان عثمان ذوالنورينؓ

## منظوم کلام نمبر 78 ..........

ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورينؓ دی
انوار عادات دَ ذوالنورينؓ دی
ياد دي په هر لور هغه غنیؓ سره
ذوالهجرتين ، ياد هغه سخی سره
تمام خطابات دَ ذوالنورينؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورينؓ دی
په اغيارو دلته کېښي بري لری
په کفارو دلته کېښي بري لری
ډيرزيات فتوحات دَ ذوالنورينؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورينؓ دی
پټ په پټ به رب ته دوی ژړل دلته
يو الله نه دوی مدام غوښتل دلته





ښکلي مناجات دَ ذوالنورينؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورينؓ دی
هغه دَ قرآن نسخه په څهٔ ګواه؟
ښکلي عاليشان نسخه په ښهٔ ګواه
دَ ژوند عبارات دَ ذوالنورينؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورينؓ دی
دَ مولیٰ په ياد کېښي تل مدام به وو
دَ آقا ﷺ په ياد کېښي تل مدام به وو
قيمتی اوقات دَ ذوالنورينؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورينؓ دی
هر يو خبره ملغلره ده
هر يو خبره معتبره ده
درانهٔ کلمات دَ ذوالنورينؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورينؓ دی
دريم په خلافت کېښي دَ هر چا امام
وفا دَ نبی ﷺ سره کوی مدام
ژوند کېښي معاملات دَ ذوالنورين دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورينؓ دی
مال سره دولت سره مدد دين
بئر رومه اخلی په صفت شيرين
داتړول احسانات دَ ذالنورينؓ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورینؓ دی
دوی راته ښودلي په ژوندون حیا
جوړوی په زړونو کښي سکون حیا
قائل مخلوقات دَ ذوالنورینؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورینؓ دی
رفیق دَجانان ﷺ دَ آقا ﷺ هغه
ناشر القران په دُنیا هغه
ښهٔ اعلا خدمات دَ ذوالنورینؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورینؓ دی
دوی له دَ بخشش اعلان په جار شوے
دوی له دَ بخشش اعلان بار بار شوے
پاك دَ ژوند صفحات دَ ذوالنورینؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورینؓ دی
مینه محبت لری رسول ﷺ سره
قُرب لری قربت لری رسول ﷺ سره
ډیر زیات حَسَنات دَ ذالنورینؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورینؓ دی
ډیر زیات دیندار پرهیزګاره وو
له اغیار، له شرك نه تل بیزاره وو
دا ښکلي عادات دَ ذوالنورینؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورینؓ دی





کاتبِ قران هغه صفت سره
جامع القران دے په خدمت سره
بالا عبادات دَ ذوالنورینؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورینؓ دی
څنګ په څنګ جنت کښي دَ نبی ﷺ سره
څنګ په څنګ جنت کښي مدنی ﷺ سره
بره درجات دَ ذوالنورینؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورینؓ دی
پاس احمد لیکلي په اشعار کښي
سَم خائسته ګلونه په ګلزار کښي
دَ عثمانؓ حالات دَ ذوالنورینؓ دی
ښهٔ اعلیٰ صفات دَ ذوالنورینؓ دی

..................................................

## شان عثمان ذوالنورینؓ

...........منظوم کلام نمبر 79...........

حیا حیا، سخاوت عثمان غنی
ترجمان دَ شریعت عثمان غنیؓ
رڼا ګاني بره سَم دَ ستورو دی
څنګ چي دَ اصحابوؓ ټولو نورو دی
اداګاني دَ حضرت عثمان غنیؓ

ترجمان دَ شریعت عثمان غنیؓ

علم ، حلم ، مَل وفا دَ دوی سره
مینه لری عشق لری نبی ﷺ سره
مینه مینه محبت عثمان غنیؓ
ترجمان دَ شریعت عثمان غنیؓ

ذوالنورین سره ئي جهان پیژني
دلته کښي ئي ټول عاشقان پیژني
دریم نمبر په خلافت عثمان غنیؓ
ترجمان دَ شریعت عثمان غنیؓ

ذوالهجرتین دوی ته وائی دلته ټول
دَ حضور ﷺ دَ خوښي دوی کارونه کول
روان پوره په سنت عثمان غنیؓ
ترجمان دَ شریعت عثمان غنیؓ

دَ قرآن کاتب هغوی ناشر پوره
ددین په علوموکښي ماهر پوره
دا لری بل فضیلت عثمان غنیؓ
ترجمان دَ شریعت عثمان غنیؓ

زیري ورله دلته دَ جنت جنت
هریو دَ جهان ورله عزت عزت
نُور لری صورت سیرت عثمان غنیؓ
ترجمان دَ شریعت عثمان غنیؓ



(c) ketabton.com: The Digital Library



قدر کړی تمام جهان د دوی پوره
هریو دَ جهان ارمان دَ دوی پوره
مونده لي دے شهادت عثمان غنیؓ
ترجمان دَ شریعت عثمان غنیؓ

دا صفات احمده! دَ عثمانؓ تمام
پیژني دا دلته مسلمان تمام
دریم نمبر په امامت عثمان غنیؓ
ترجمان دَ شریعت عثمان غنیؓ

..................................................

# شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 80 ..........

دا چي حضرت علیؓ دے
جنتی دے جنتی دے
شمیر د دوی مبشره کښي
ښهٔ بالا په صحابهؓ کښي
هاشمی دے قریشی دے
دَ نبی ﷺ خوږ صحابیؓ دے
یاد په فاتحِ خیبر دے
هم اصحابؓ کښي دَ بدر دے
شریك بیعتِ رضوان کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضورﷺ سره هر مکان کښې
په لقب هم مرتضیٰ دے
هم حیدر ، اسدالله دے
دَ هجرت دَ شپې امین دے
یاد امیرالمؤمنین دے
دا چې حضرت علیؓ دے
ځووم زمونږه دَ نبیﷺ دے
فاطمهؓ د دوی نکاح کښې
ښځهٔ زوجه دَ دوی نکاح کښې
دا وړه لور دَ نبیﷺ وه
په نکاح کښې دَ علیؓ وه
دَ ابوطالب فرزند دے
دا علیؓ چې قدرمند دے
دَ خپل وخت عظیم مفتی دے
محدث عظیم قاضی دے
څلورم په خلافت کښې
دا ترتیب په امامت کښې
بهترین ښهٔ مفسر دے
صحابهٌ کښې لوئې شاعر دے
دَ حضورﷺ سره په خوا کښې
څنګ په څنګ وو په دُنیا کښې





دَ حسنؓ ، حسینؓ محبوب دے
دَ حسنؓ ، حسینؓ مطلوب دے
دَ دوی پلار دَ دوی بابا دے
دا چې علی مرتضیٰؓ دے
د دوی خوښه سادګی وه
ښهٔ ساده ئې زندګی وه
صحابهٌ تمام دی ستوری
څوك رڼا كۀ دلته ګوری
هر يو نُور دَ شریعت دے
ژوند ئې ټول صفت صفت دے
حق احمده ! ستا بیان دے
علیؓ حُسن دَ جهان دے

..................................................

## شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

..........منظوم کلام نمبر 81..........

رڼا ټوله لری زندګی
په نمبر څلورم خلافت کښې علیؓ
مُبشره اصحابؓ کښې د دوی دلته شمیر
فضیلت درنه دا دَ حیدرؓ نه شی هیر
زیري دوی له ښکاره جنتی جنتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنړا تولــه لــری زنـدګـی زنـدګـی
رحمتونه په سر، نورانی منوَر
په وجود مشك عنبر، معطّر معظر
په صحبت دَ نبی ﷺ، صحابی صحابی
رنړا تولــه لــری زنـدګـی زنـدګـی
ورسره مشوره دَ صديقؓ او عمرؓ
ورسره مشوره دَ عثمانؓ برابر
دَ علم ښهٔ لوئي باب، لوئي عالم، لوئي مفتی
رنړا تولــه لــری زنـدګـی زنـدګـی
لوئي ئي شان لوئي مقام معتبر معتبر
په اسلام په مذهب پوهه ښهٔ برابر
دَ هر دور دَ اسلام بهترين قاضی
رنړا تولــه لــری زنـدګـی زنـدګـی
کوروانه ددوی فاطمهؓ فاطمهؓ
مزيداره لری ښهٔ خوږه تذکره
نزدي خپل دَ آقا، دَ حضور مدنی ﷺ
رنړا تولــه لــری زنـدګـی زنـدګـی
دي عالَم ته پته، په نسب ښهٔ اوچت
دَ عجم خلقو نه، په عرب ښهٔ اُوچت
په نسب قريشی په نسب هاشمی
رنړا تولــه لــری زنـدګـی زنـدګـی





خديجهؓ ده اول زنانو تولو کښې
دا نمبر دا مقام پخوانو تولو کښې
ماشومانو کښې دوی اول ايمان لری
رنړا تولــه لــری زنـدګـی زنـدګـی
مينه دوی سره کړه، دَ حسنؓ دے بابا
دَ حسينؓ بابا، ښهٔ اعلا ښهٔ بالا
دَ حضور ﷺ نمسی کوی تل رهبری
رنړا تولــه لــری زنـدګـی زنـدګـی
دا وينا حقيقت، دابيان حقيقت
ستا احمده اشعار په جهان حقيقت
منقبت، حمد ونعت اسلامی شاعری
رنړا تولــه لــری زنـدګـی زنـدګـی

..........................................

## شان سيّدنا علی المرتضیٰؓ

### ..........منظوم کلام نمبر 82..........

دا چې حضرت علیؓ دے
جنتی دے جنتی دے
عشره مبشرهؓ کښې
شامل دوی په صحابهؓ کښې
تل په لاره دَ نبی ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې حضرت علیٌ دے
په صحبت دَ پیغمبر ﷺ
په دَ قُربت دَ خوږ دلبر ﷺ
صحابی دے صحابی دے
دا چې حضرت علیٌ دے
دوست دَ صدیق او عمرٌ
دَ عثمانٌ په لر او بر
حقیقی دے، حقیقی دے
دا چې حضرت علیٌ دے
ځوم دَ سيّدالبشر ﷺ
رڼا ستوري منوَر
ابدی دے ابدی دے
دا چې حضرت علیٌ دے
دَ جنت زیري دي دوی له
دَ عزت زیري دي دوی له
متقی دے، متقی دے
دا چې حضرت علیٌ دے
خاندان ئي دَ حضور ﷺ
خپل خپلوان ئي د حضور ﷺ
هاشمی دے قریشی دے
دوی دی فاتح خیبر





لری پوهه، درونه نظر
لوئي قاضی دے هم مفتی دے
دا چې حضرت علیٌ دے
دَ حُسينٌ او حسنٌ پلار
دَ هرچا مشر، سالار
مقتدا دے مقتدی دے
دا چې حضرت علیٌ دے
ښهٔ زړه ور په شجاعت
لوئي عابد په عبادت
لوئي ولی دے لوئي ولی دے
دا چې حضرت علیٌ دے
شامل بیعتِ رضوان کښې
تذکره لری قرآن کښې
دَ قرآن عظیم قاری دے
دا چې حضرت علیٌ دے
مَل دَ سيّدالبشر ﷺ
په اُحد کښې په بدر
دوی نه ربّ دلته راضی دے
دا چې حضرت علیٌ دے
ورسره مینه په جار کړم
زهٔ احمد ددې اظهار کړم

صفتي دے صفتي دے
دا چې حضرت علیؓ دے
جنتي دے جنتي دے

..............................................

# شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

## منظوم کلام نمبر 83..........

تول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
نوم لری اُوچت علیؓ المُرتضیٰؓ
کنیت ابو الحسن، ابو تُراب
نیشته ئي دَ یو ادا ثاني، جواب
نوم دي دَ همت علیؓ المرتضیٰؓ
تول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
دَ اسدالله په لقب یاد هغه
ډیر لری دَ قدر تول اولاد هغه
نوم دَ هر عظمت علی المُرتضیٰؓ
تول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
بنو هاشم دَ قریش نسب سره
تعلق لری علم و ادب سره
نور، نورانیت علیَ المُرتضیٰؓ
زیري ورله دلته ورکوی نبي





مستند حدیث په دي دلیل قوی
ځائي لری جنت علیَ المُرتضیٰؓ
تول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
ستوري دَ اسمان دَ رڼا ګانو دے
لوئي امام مشر دَ امامانو دے
داعي دَ وحدت علی المُرتضیٰؓ
تول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
ملاسته دَ نبي ﷺ په ځائي، بستر کوی
نبي ﷺ مدیني ته چې سفر کوی
دلیل دَ قُربت علی المُرتضیٰؓ
تول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
زمونږه مذهب لره پوره اساس
فتح دَ خیبر قلعه دَ دوی په لاس
یاد په شجاعت علیؓ المُرتضیٰؓ
تول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
دَ مدیني تول نګراني کوی
دَ تبوك غزوه چې پاك نبي ﷺ کوی
وخت دَ نیابت علیؓ المُرتضیٰؓ
تول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
دوی خلیفه حضرت عثمانؓ پسے
دوی پسے تلل، تلل دی په جانان ﷺ پسے



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښ دَ پاك حضرت ﷺ، علی المرتضیٰؓ
ټول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
اثر دَ نبی ﷺ دَ تربیت پوره
ټول لری ژوندون په شریعت پوره
ډیر اعلیٰ نسبت علیٌ المُرتضیٰؓ
ټول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
ژوند سره تړلي محبت لری
آخری په ژوند کښي شهادت لری
ښهٔ اعلا فطرت علیٌ المُرتضیٰؓ
مینه مینه دوی سره وفا کوه
مدحه ئي احمده! په هر خوا کوه
نور په ټول سیرت علی المُرتضیٰؓ
ټول صفت صفت علی المرتضیٰؓ
عاشق په سنت علی المُرتضیٰؓ
ټول صفت صفت علی المرتضیٰؓ

.........................................

## شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 84 ..........

خلیفه، نائب دَ جانان ﷺ علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے





مشرك ته دښمن ته ولاړ مخامخ
کافر هریو تن ته ولاړ مخامخ
دښمن دَ ابلیس دَ شیطان، علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے
بدر دَ احد، له خندق شه خبر
په جنګ کښي دښمن ته ولاړ په هر در
دښمن ته ولاړ په میدان علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے
زړهٔ ور، وفادار دَ نبی ﷺ په هر لور
مفتی دے عالم هم قاضی په هر لور
لرونکي ښکاره اُوچت شان علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے
نمبر څلورم خلافت کښي د دوی
نمبر څلورم امامت کښي د دوی
شوریٰ کښي رکن دَ عثمانؓ علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے
حسنؓ او حسینؓ لری دلته اولاد
دَ بابُ العلم په لقب سره یاد
خبر په تفسیر په قرآن علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے
د دوی حدیثونه د دین یو حصه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی تقریرونه دَ دین یو حصه
دلیل دَ عظمت قدردان علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے
ابو الحسن ورسره یاد په حیدر
ابو تراب نوم ساتی یاد هر بشر
راوړونکي اول هم ایمان علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے
ملاؤ ورته دلته رُتبه شهادت
هم زیري لری دلته کښي دَ جنت
په دین نثار قربان علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے
احمده! ددوی سره مینه لازم
سبق دغه دلته دي ښائی عالم
څوم دَ خوږ نبی ﷺ خوږ انسان علیؓ دے
دَ حق علامت، ترجمان علیؓ دے

..........................................................

## شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

### ..........منظوم کلام نمبر 85..........

محبوب وو دَ جانان ﷺ قدردان علیؓ وو
راوړونکي په اول نمبر ایمان علیؓ وو





اعلا په قبیلي سره تمام پوره عرب کښي
نزدي ښهٔ قریبی وو دَ حضور ﷺ سره نسب کښي
ممتاز په قبیلي په خاندان علیؓ وو
محبوب وو دَ جانان ﷺ قدردان علیؓ وو
عابده، پرهیزگاره، امامانو له امام
تابع پوره پوره دَ محمد خیر الانام ﷺ
د دین دَ شریعت په لار روان علیؓ وو
محبوب وو دَ جانان ﷺ قدردان علیؓ وو
امین دَ مصطفیٰ په اَمر جوړ شو برابر
روان چي شو جانان ﷺ کله مکي نه په سفر
بیا وروستو واپس کړي تول سامان علیؓ وو
محبوب وو دَ جانان ﷺ قدردان علیؓ وو
دَ بدر دَ اُحد حالت څهٔ پټ نهٔ دے له چانه
تاریخ راواخله اُوګوره، تپوس اُوکړه دُنیانه
ملګري دَ حضور ﷺ په هر مکان علیؓ وو
محبوب وو دَ جانان ﷺ قدردان علیؓ وو
دَ حسنؓ دَ حسینؓ دَ زړهٔ ټکور په هر قدم
خبر په دي خبره دی عرب دغه عجم
عَلَم اُوچتوونکي دَ جانان ﷺ علیؓ وو
محبوب وو دَ جانان ﷺ قدردان علیؓ وو
نمبر دَ خلافت ئې څلورم په دي دُنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاضی دَ عدالت په هر طرف دے دَ هر چا
قاضی دَ شوریٰ رکن دَ عثمانؓ علیؓ وو
محبوب وو دَ جانان ﷺ قدردان علیؓ وو
ورکړي ورله زیري پیغمبر ﷺ دے دَ جنت
ددین احمده ! کړي هغوی دلته ډیر خدمت
عاشق دَ دین اسلام وو دَ قرآن علیؓ وو
محبوب وو دَ جانان ﷺ قدردان علیؓ وو
یو ګل دَ صحابهؓ دَ ګلستان علیؓ وو
امیر المؤمنین ښهٔ حکمران علیؓ وو
یو ستوري دَ رڼا دَ پاس اسمان علیؓ وو

................................................

# شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 86 ..........

رهنما دے مقتدا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدر کرار علیؓ
ورسره مینه لرله سیدالابرار ﷺ تل
ورسره مینه لرله حق نبی سردار ﷺ تل
دلته داسي په دُنیا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدر کرار علیؓ
مرسته ئي ددین کړي وه هر طرف ته ښهٔ په جار





مینه ئي په زړهٔ لرله دین سره دَ کردګار
پوهه له دین اشنا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدر کرار علیؓ
لقب سره یاد دلته په اسد الله مدام
څلورم نمبر خلیفه ، اماما نو له امام
خوښ دَ آقا مجتبیٰ ﷺ دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدر کرار علیؓ
زوم دَ پیغمبر دَ آقا ﷺ فاطميؓ ته ګران ډیر
نرم خویه ډیر ډیر ، مشفقه مهربان ډیر
ټول وفا وفا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدر کرار علیؓ
حضرت حسنؓ حسینؓ له دلته کښي دَ زړهٔ ټکور
ورته خوږ نبی ﷺ کړي دے دلته کښي نسبت دَ ورور
مصطفیٰ راضی ، رضا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدر کرار علیؓ
تل دَ شجاعت په صفت مونږه ټول ئي پيژنو
تل دَ عدالت په صفت مونږه ټول ئي پيژنو
دوست تمام دَ اولیاء دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدر کرار علیؓ
تل خوشحاله دلته کښي دَ رب په بندګی پوره
تل خوشحاله دلته کښي دَ ژوند په سادګي پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده دَ مشکل کشا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدرکرار علیؓ
مرحب دَ خندق په جنگ کښې دوی راغرځولي دے
فاتحِ خیبر دَ خیبر ، جنگ کښې مونږ لیدلي دے
ختمونکي هر بلا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدرکرار علیؓ
منع ورسره کینه ده ، منع ورسره حسد
دوی دَ مظلومانو کړي هرطرف ته تل مدد
مثالی په هر ادا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدرکرار علیؓ
مینه محبت لرلو دوی صدیق اکبرؓ سره
مینه محبت لرلو دوی حضرت عمرؓ سره
مینه مینه ، پارسا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدرکرار علیؓ
دَنبی ﷺ سره ملګري تل په هر میدان وو
کاتبِ قرآن دلته ، دوست دَ عثمانؓ وو
په ژوندون رښا رښا دے حیدر کرار علیؓ
مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدرکرار علیؓ
مدحه ئي احمد کړي ده ، ورسره خوشحاله دے
نوراني سیرت لرونکي ، بشر لامثاله دے
شان لرونکي بیل جدا دے حیدر کرار علي





مقتدی دَ مصطفیٰ ﷺ دے حیدرکرار علیؓ

..............................................

## شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

### ...........منظوم کلام نمبر 87...........

دَ فلاح وسیله محبت دَ علیؓ
پیروی ده پکار ، اطاعت دَ علیؓ
په کردار ډیر اُوچت ، په ګفتار ډیر اُوچت
وفادار ډیر اُوچت ، په هر دار ډیر اُوچت
خوشبوئی ، خوشبوئی هر صفت دَ علیؓ
دَ فلاح وسیله محبت دَ علیؓ
طریقه ئي پوره دَ سکون ذریعه
رښا هر یو حصه ، معتبره درنه
دَ قدر دَ عزت ، سر اُوچت دَ علیؓ
دَ فلاح وسیله محبت دَ علیؓ
دي صدیقؓ ، بیا عمرؓ ، دَ عثمانؓ بیا نمبر
خلفاء دي در ، خلفاء معتبر
څلورم خلیفه ، خلافت دَ علیؓ
دَ فلاح وسیله محبت دَ علیؓ
دښمنان شول ناکام ، د علیؓ تول تمام
پیژني لوئي مقام ، مبلغ دَ اسلام

مؤمنان تهول منی فضیلت دَ علیؓ
دَ فلاح وسیله محبت دَ علیؓ
زیری دوی له نبی ﷺ ورکوی دَ جنت
مستند دا بیان ، دا بیان حقیقت
منتظر برابر دي جنت دَ علیؓ
دَ فلاح وسیله محبت دَ علیؓ
رب پوره کړهٔ ارمان په دُنیا
ورله ورکړهٔ مولیٰ رُتبه لویه اعلا
اخیری دي عمل، شهادت دَ علیؓ
دَ فلاح وسیله محبت دَ علیؓ
دَ کمال هر عمل دلته کښي دوی لری
ترازو دَ عَدَل دلته کښي دوی لری
انقلاب دَ جهان امامت دَ علیؓ
دَ فلاح وسیله محبت دَ علیؓ
دَ احمد حق کلام ورسره مینه کړی
وفادار دَ اسلام ورسره مینه کړی
هر یو زړهٔ له تسکین منقبت دَ علیؓ
دَ فلاح وسیله محبت دَ علیؓ

..............................................

★★★★★★★★★★



(c) ketabton.com: The Digital Library



# شان سیّدنا علی المرتضیٰ ؓ

## ...........منظوم کلام نمبر 88

صخرلری علیؓ نبی ﷺ، دَ صحابهؓ یار علیؓ
تل دَ شجاعت نخه ، حیدر کرار علیؓ
ښهٔ اعلیٰ په خاندان قریشی دي هاشمی
ښهٔ اعلیٰ په هر بیان قریشی دي هاشمی
اسد اللّٰه ، مرتضیٰ، پوهه ښهٔ هوښیار علیؓ
تل دَ شجاعت نخه حیدر کرار علیؓ
دَ علیؓ په تن بدن جوړي رنګاني دی
ښهٔ درته معلومه ده دا چي غزاګاني دی
صدیقؓ او عمرؓ سره دَ لښکر سالار علیؓ
د دین دَ عظمت نخه حیدر کرار علیؓ
ؓدوی نه دَ وفا سبق زده کړهٔ ښهٔ په شوق سره
دَ دین دَ ښُکلا سبق زده کړهٔ ښهٔ په شوق سره
مینه ورسره راځی ، زړونو له قرار علیؓ
تل دَ شجاعت نخه حیدر کرار علیؓ
باب دَ علم دلته کښي هر بشر ته پته ده
باب دَ علم دلته کښي لر او بر ته پته ده
ښهٔ اعلا مفتی قاضی ، په وجود بیدار علیؓ
تل دَ شجاعت نخه حیدر کرار علیؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لری دَ جنت زیري دلته برابر تمام
فاتح خیبر سره یاد په لر او بر مدام
غالب په اغیار علیؓ ، دښمن دَ کفار علیؓ
تل دَ شجاعت نخه حیدر کرار علیؓ
مینه ورسره لازم دلته کښې په هر محل
ذریعه دَ انقلاب غواړی درنه دا عمل
تول وفا وفا علیؓ ، نوم دَ اعتبار علیؓ
تل دَ شجاعت نخه حیدر کرار علیؓ
خلیفه ترتیب سره تل په څلورم هغه
هر څۀ په نصیب سره تل په څلورم هغه
احمده ! رهبر علیؓ ، دَ خلقو غمخوار علیؓ
تل دَ شجاعت نخه حیدر کرار علیؓ

.................................................

## شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 89

څلورم په خلافت کښې چې علیؓ دے
جنتی دے دَ نبی ﷺ یو صحابیؓ دے
دَ مکې په پاکه خاوره ولادت ئې
ملغلري دَ جهان تمام سیرت ئې
تل علیؓ سره یاد شوي په نامه دے





تول وجود ئې دَ صفاتو مجموعه دے
دَ حیدر سره اسد اللّٰه لقب
ښۀ خبر په دې عجم په دي عرب
بل امیر المؤمنین لقب ددوی دے
څوم دَ سیّد البشر دَ مدنی ﷺ دے
فاطمهؓ بی بی ئې دلته کور ودانه
هیره نۀ ده دا نامه دلته له چانه
باب العلم دے دَ علم په صفت
یادوی ئې کائنات په شجاعت
دَ خیبر فاتح لقب د دوی دي دلته
په وجود سره اعلیٰ قوی دي دلته
په نسب سره قریش کښې قریشی دے
په نسب کښې دَ هاشم دے هاشمی دے
دَ ترۀ څوي دَ مصطفیٰ خیر الابرار ﷺ دے
دَ خپل قوم دَ قبیلې مشر سردار دے
دَ زینبؓ ، امّ کلثومؓ د مُحسن پلار دے
هر یو ګل ښۀ معطّر ددې ګلزار دے
ورسره په دې چمن کښې دے حسنؓ
علامت په کائنات کښې دَ اَمَنْ
هم حُسینؓ یو حَسِین ګل دَ کائنات دے
دَ بابا سره موصوف په تول صفات دے

پنځه دیرش چې کله تیر شول دَ هجرت
آغاز اُوشول د دوی دَ خلافت
دَ هجرت چې څلویښتم کال شو تمام
شهادت ورله مولیٰ ورکړهٔ انعام
مرتبه دَ شهادت ورته ملاؤ شوه
مرتبه دَ سعادت ورته ملاؤ شوه
دا صفات ټول دَ علی اِبنِ طالب دی
دا لیکلی ټول تمام هریو کاتب دی
دا احمدعلی قلم سره محفوظ شو
دَ اللّه فضل وکرم سره محفوظ شو

..................................................

## شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

### ..........منظوم کلام نمبر 90

مدحه دَ اصحابؓ چې دَ نبی ﷺ کوُو
ذکر خامخا به دَ علیؓ کوُو
یاد په مرتضیٰ، اسداللّه مدام
دا خوږه نامه لری دَ احترام
مینه ورسره به ابدی کوُو
ذکر خامخا به دَ علیؓ کوُو
هغه دَ حُسینؓ اودَ حسنؓ بابا



(c) ketabton.com: The Digital Library



نیشته دَ هغوی په مِثَل نن بابا
ذکر دَ اعلا ښځهٔ جنتی کوُو
ذکر خامخا به دَ علیؓ کوُو
شمیر په عشره مبشرهؓ کښې تل
دَ صحابهؓ ښکلی ګلدسته کښې تل
ذکر دَ مفتی کوُو، قاضی کوُو
ذکر خامخا به دَ علیؓ کوُو
هغه خلیفه په څلورم نمبر
لری مرتبه په څلورم نمبر
ذکر دَ امام یو صحابیؓ کوُو
ذکر خامخا به دَ علیؓ کوُو
په صدیقؓ عمرؓ پسے ولاړ مدام
دَ عثمانؓ ملګری په هریو مقام
ذکر دَ آقا ﷺ دَ مقتدی کوُو
ذکر خامخا به دَ علیؓ کوُو
هرچاته معلوم په شجاعت سره
هرچاته معلوم په عدالت سره
مینه ورسره به حقیقی کوُو
ذکر خامخا به دَ علیؓ کوُو
فاطمهؓ بی بی ورسره مینه کړی
هریوه خبره ښځهٔ شیرینه کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر په نسب دَ قریشي کوُو
ذکر خامخا به دَ علیؓ کوُو
ذکر چي احمده! دَ بدر راشي
ذکر چي دَ ګټي دَ خیبر راشي
ذکر دَ علیؓ مونږ لازمي کوُو
ذکر خامخا به دَ علیؓ کوُو

.....................................................

## شان سیّدنا علی المرتضیٰؓ

### منظوم کلام نمبر 91..........

نُور علیؓ، رحم علیؓ
مخکښي مُقدم علیؓ
اصحابؓ دَ نبي ﷺ ګواه
هر یو صحابي ګواه
نُور دَ هر تور تم علیؓ
مخکښي مُقدم علیؓ
مني تول عرب هغه
مني هر مکتب هغه
مني تول عجم علیؓ
مخکښي مُقدم علیؓ
حدیبیه صلحه وه





تاریخیه صلحه وه
لیکوال په قلم علیؓ
مخکښي مُقدم علیؓ
مردار کړۀ مرحب هغه
دښمن د. مذهب هغه
په مشرك برهم علیؓ
مخکښي مُقدم علیؓ
دَ کافر دَ پاره سخت
دَ منکر دَ پاره سخت
خپلو له نرم علیؓ
مخکښي مُقدم علیؓ
بدر دَ اُحد میدان
هغه وخت، ګواه اسمان
صاحب دَ عَلَم علیؓ
مخکښي مُقدم علیؓ
ورستو له صدیق اکبرؓ
له عثمان غنيؓ، عمرؓ
مرتبه کښي کم علیؓ
مخکښي مُقدم علیؓ
دوست دَ صحابهؓ تمام
خُلورم نمبر امام

(c) ketabton.com: The Digital Library



خليفه مُحكم علیؓ
مخكښي مُقدم علیؓ
رهبرانو له رهبر
تاج دي دَ عزت په سر
جنتي هردم علیؓ
مخكښي مُقدم علیؓ
باب العلم په لقب
باب العلم دَ ادب
دَ امن حرم علیؓ
مشك عنبر دي سَم علیؓ
احمدئي صفت كوی
مدحه هرساعت كوی
دَ مولیٰ كرم علیؓ
مخكښي مُقدم علیؓ

..............................................

## شان سيّدنا علی المرتضیٰؓ

..........منظوم كلام نمبر 92

شير علیؓ، حيدر علیؓ
زړۀ زما، ځيگر علیؓ
دروند تمام په ټول نسب





په عجم په ټول عرب
دروند لری فكر علیؓ
زړۀ زما، ځيگر علیؓ
نور رڼا رڼا تمام
نور رڼا دَ هر مقام
انقلاب، سحر علیؓ
زړۀ زما، ځيگر علیؓ
دَ صديقؓ سره په خنگ
دَ اسلام په رنگ كښي رنگ
سالار دَ لښكر علیؓ
زړۀ زما، ځيگر علیؓ
مَل ملگري دَ عمرؓ
هرطرف ته په هردر
دَ عثمانؓ دلبر علیؓ
زړۀ زما، ځيگر علیؓ
بابا دَ حُسينؓ، حسنؓ
ښه مضبوط قوي په تن
مشر دے افسر علیؓ
زړۀ زما، ځيگر علیؓ
فاطمي بي بيؓ ته گران
اول دي د دوی ايمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اغیار خنجر علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
دوی کړلو مردار مرحب
دوی کړۀ راګزار مرحب
په هر چا دي بر علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
مَل ملګري دَ اصحابؓ
هر عمل کښي لاجواب
وفادار زړۀ ور علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
دَ بدر ، اُحد سالار
په خندق کښي مددګار
فاتح دَ خیبر علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
دَ اسد الله لقب
ښۀ لري اعلا لقب
بره لري سَر علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
نۀ یره کړي له کافر
نۀ یره کړي له منکر
ښۀ اعلا رهبر علیؓ





زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
باب العلم دَ جهان
باب العلم عالیشان
ډیر زور نظر علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
مداح خوان عرب د دوی
هاشمی نسب د دوی
دروند په تول تېر علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
حق امیر المؤمنین
ژوند لري تمام حسین
علاج دَ هر منکر علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
هم خلیفه هم امام
مبلغ د دین اسلام
هر پل بختور علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ
د. احمد کامل بیان
قاری ، عاشق دَ قرآن
نور تمام ، بشر علیؓ
زړۀ زما ، ځیګر علیؓ

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................

# شان سيّدنا علي المرتضیٰؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 93

ډير زړۀ ور انسان عليؓ
فاتح دَ ميدان عليؓ
ولاړ دَ نبي ﷺ سره
ولاړ مدني ﷺ سره
عاشق دَ جانان ﷺ عليؓ
ډير زړۀ ور انسان عليؓ
په نسب اُوچت اُوچت
په منصب اُوچت اُوچت
خليفه، سلطان عليؓ
ډير زړۀ ور انسان عليؓ
دَ صديقؓ عمرؓ نه پس
دَ عثمان دلبرؓ نه پس
لري رُتبه شان عليؓ
ډير زړۀ ور انسان عليؓ
بابُ العلم ذی وقار
عالم، پوهه، خبردار
اول په ايمان عليؓ





ډير زړۀ ور انسان عليؓ
غور ځولے منکر هغه
مشرکه،کافر هغه
مرحب په جهان عليؓ
ډير زړۀ ور انسان عليؓ
مرتضیٰ اسد اللّٰه
لقب لري دلته دا
عاشق دَ قرآن عليؓ
ډير زړۀ ور انسان عليؓ
حق وينا احمده! ستا
ټول وجود وفا وفا
رهبر، قدردان عليؓ
ډير زړۀ ور انسان عليؓ

..........................................

# شان سيّدنا حسنؓ ، حسينؓ

## ..........منظوم کلام نمبر 94

حسنؓ زنده باد دے، حسينؓ زنده باد دے
دَ حضرت عليؓ ډير دَ قدر ټول اولاد دے
دَ هر يو په ژوند کښې سبق مونږ دَ پاره
هر يو په دوی کښې دَ بابا ﷺ په لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښمـــــن دَ عـــلــــیؓ ، د دوی نـــــامـــــراد دے
حســـنؓ زنـــده بـــاد دے ، حسیـــنؓ زنـده بـــاد دے
وفـــا د دوی ژونـدکښـــي ښـــهٔ ښـکـــاری تمامــه
رښـا د دوی ژونـد کښـــي ښـــهٔ ښـکـــاری تـمـامــه
هــریــو ښـــهٔ قـوی دے ، پـــه عـــزم فـولاد دے
حســـنؓ زنـــده بـــاد دے ، حسیـــنؓ زنـده بـــاد دے
دَ هــریــو ســره دَ نبـی ﷺ میـنـــه ډیـــره
دَ هـریـو ســره دَ عـلـیؓ میـنـــه ډیـــره
دَ هـریـو دَ ژونــدون مـحـل جـوړ آبـاد دے
حســـنؓ زنـــده بـــاد دے ، حسیـــنؓ زنـده بـــاد دے
وسیـلـــه ښــهٔ اعـلا فـلاح لـــه تـمـامـــه
خبـــر شــــه دَ احـــمــد پـوره لـــه کـلامــه
زمـــونـــږه دَ ټــولـــو ایــمـــان اعتــمــاد دے
حســـنؓ زنـــده بـــاد دے ، حسیـــنؓ زنـده بـــاد دے

..................................................

## شان صحابیاتؓ

### ......... منقبت حضرت خدیجهؓ .........

### .......... منظوم کلام نمبر 95 ..........

نکاح کښي دَ پاک نبی ﷺ ، ډیره ښه درنه بی بی
حضرت خدیجهؓ بی بی ، حضرت خدیجهؓ بی بی





ټولو ازواجو کښـي دوی اول نمبر لری
سیرت ئي پوره تمام ښهٔ پوره اثر لری
ژوند لری پوره تمام سَمه ګُلدسته بی بی
نکاح کښي دَ پاک نبی ﷺ ، ډیره ښه درنه بی بی
قریشی ئي خاندان ښه اعلا نسب دلته
ښه بالا په ټولو کښي تل په ټول عرب دلته
نسب قبیلي سره هغه سَیده بی بی
نکاح کښي دَ پاک نبی ﷺ ، ډیره ښه درنه بی بی
هر خوا ته په هر قدم یاده په عزت سره
دَ حضور ﷺ سره مدام یاده محبت سره
پاکه ، پرهیزګاره ښه ، یاده طاهره بی بی
نکاح کښي دَ پاک نبی ﷺ ، ډیره ښه درنه بی بی
ډیر ئي خادمان لرل ، ډیره ښه مالداره وه
ښه ډیره هوښیاره وه ، ډیره حیاداره وه
خوشبوداره دلته کښي لری تذکره بی بی
نکاح کښي دَ پاک نبی ﷺ ، ډیره ښه درنه بی بی
ډیرئي خادمان لرل ، لوئي ئي کاروبار لرهٔ
ښکلي ئي اخلاق لرهٔ ، شیرین ئي ګفتار لره
درنه په دُنیا لری پوره حوصله بی بی
نکاح کښي دَ پاک نبی ﷺ ، ډیره ښه درنه بی بی
په حضور ﷺ ده ګرانه ښه ډیره درنه بی بی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت خديجهؓ بی بی ، حضرت خديجهؓ بی بی
چا چي دَ حضور ﷺ سره هر ساعت وفاکړے
چا چي دَ حضور ﷺ سره مينه په هر خوا کړے
لری دَ سيرت هر رُخ ښهٔ پوره پوره بی بی
نکاح کښي دَ پاك نبی ﷺ، ډيره ښه درنه بی بی
چا دَ حضور ﷺ دفاع ښهٔ پوره په جار کړے
چا دَ حضور ﷺ دفاع ژوند کښي په هردار کړے
دلته دَ محشر لری دا اعلا توښه بی بی
نکاح کښي دَ پاك نبی ﷺ، ډيره ښه درنه بی بی
چا چي خپل دولت په دين دلته ټول قربان کړلو
چا چي په شوروو اول دَ اقرار دَ ايمان کړلو
تل خوشحاله دلته کښي ده په صدقه بی بی
نکاح کښي دَ پاك نبی ﷺ، ډيره ښه درنه بی بی
زينبؓ او کلثومؓ سره څلور ئي لورياني دی
ډيري قدرداني دی ، ټولي مؤمناني دی
لور ئي فاطمهؓ بی بی ، لور ئي رُقيهؓ بی بی
نکاح کښي دَ پاك نبی ﷺ، ډيره ښه درنه بی بی
طاهر او طيب سره ياد دے عبدالله مدام
بل دے په قاسم سره ياد پوره په احترام
څلور ئي لورياني دی، ځامن لری دوه بی بی
نکاح کښي دَ پاك نبی ﷺ، ډيره ښه درنه بی بی





دوی لره راوړے دے دلته کښي جبرئيل سلام
داسي ښهٔ بالا لری ډير اُوچت بلند مقام
ياده په لقب سره هر خوا طاهره بی بی
نکاح کښي دَ پاك نبی ﷺ، ډيره ښه درنه بی بی
دروند لری سيرت تمام دا احمدعلي وائی
ټول سيرت صفت لری دا هر يو ولی وائی
دَه دَ مؤمنانو مور، ډيره ښه خوږه بی بی
نکاح کښي دَ پاك نبی ﷺ، ډيره ښه درنه بی بی
حضرت خديجهؓ بی بی ، حضرت خديجهؓ بی بی
نکاح کښي دَ پاك نبی ﷺ ، ډيره ښه درنه بی بی

..................................................

## شان صحابياتؓ

### ......... منقبت حضرت عائشهؓ .........

### .........منظوم کلام نمبر 96 ..........

دا چي حضرت عائشهؓ ده
صديقه ده سيده ده
کور وادني دَ حضور ﷺ ده
لرے له غُرور ده
په گفتار اعلا درنه ده
دا چي حضرت عائشهؓ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور دَ ټولو مؤمنانو
مور دَ ټولو صالحانو
په ازواجو کښې وړه ده
دا چې حضرت عائشهؓ ده
ابتدانه پاك حضورﷺ ته
ډېره ګرانه پاك حضورﷺ ته
پرهېزګاره ، عابده ده
دا چې حضرت عائشهؓ ده
لُور دَ صدیق اکبرؓ ده
له اسلام پوره خبر ده
ښه عالمه ، مفتیه ده
دا چې حضرت عائشهؓ ده
رحمتونه ئې په کور کښې
برکتونه ئې په کور کښې
مبارکه ئې حجره ده
دا چې حضرت عائشهؓ ده
دَقریش په خاندان کښې
ددوی ذکر هرمکان کښې
ښه اعلا ئې شجره ده
دا چې حضرت عائشهؓ ده
ګرانه! تا باندې احمده





په هرچا باندې احمده!
ښه اعلا په تذکره ده
دا چې حضرت عائشهؓ ده
لیکوال: مولانا احمدعلی مردانی
نائب صدر اپټا تحصیل مردان
منقبتِ حضرت عائشه صدیقهؓ

....................................................

## شان صحابیاتؓ

### ........منقبت حضرت عائشهؓ

### منظوم کلام نمبر 97..........

دَ مؤمنانو مور دَ ټولو عائشهؓ بی بی ده
دا کوروداني دَ حضورﷺ ده سېده بی بی ده
دا په نسب ده قریشی درته معلومه ښه ده
اعلا اعلا ئې زندګی درته معلومه ښه ده
لوردَ صدیقِ اکبرؓ ، غوره صدیقهؓ بی بی ده
دا کوروداني دَ حضورﷺ ده سېده بی بی ده
دوی نقل کړی له حضورﷺ نه حدیثونه ډېر دی
دَ دوی په شان کښې نازل شوی آیاتونه ډېر دی
دا محدثه ، مفتیه ده عالمه بی بی ده
دا کوروداني دَ حضورﷺ ده سېده بی بی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی دفـاع خپلــه مولا پوره پـه جار کړے ده
دوی سره مینـه مـصطفیٰ خیر الابرار ﷺ کړے ده
داسې اعـلا پـه صفتـونو ښـه پوره بی بی ده
دا کـوروداني دَ حـضـور ﷺ ده سپَـده بی بی ده
دَ چـا راتلـه چې بـه وحی پـه بستره دلتـه کښې
دَ چـا چـې وه ډیـره ساده دَ ژوند نقشـه دلتـه کښې
پـه کتـابونو کښـې هم یاده طیبَـه بی بی ده
دا کـوروداني دَ حضـور ﷺ ده ښـهٔ درنـه بی بی ده
دَ چا حجره کښې چې حضور ﷺ ښه په ارام اُوسیږی
دَ چـا حجـرې سـره چـې زړونو تـه آرام رسیږی
ډیـره اعـلا ده، پـرهیزګاره ، عـابده بی بی ده
دا کـوروداني دَ حـضـور ﷺ ده سپَـده بی بی ده
پـه ازواجو کښـې اعـلا جُدا مقـام لری دوی
نـوم ډیـر دَ قـدر دَ عـزت دَ احـترام لری دوی
د ډیـرو زیـاتو صـفتـونو ګلدستـه بی بی ده
دا کـوروداني دَ حـضـور ﷺ ده سپَـده بی بی ده
احمد بـه وُلـے د هـغـوی مدح و صفت نه کوی
احمد بـه وُلـے ورسره نـن محبت نه کوی
زمـا دَ خـوږ نبـی ﷺ ډیـره زیـاتـه درنه بی بی ده
دا کـوروداني دَ حـضـور ﷺ ده سپَـده بی بی ده

..................................................





# شان صحابیات رض

## ......... منقبت حضرت عائشهٔ رض .........

## ...........منظوم کلام نمبر 98 ...........

ښـهٔ اعـلا ښـهٔ بـالا پـه دُنیـا عـائشـهٔ رض
هـر صـفـت سـره تـل ده جُدا عـائشـهٔ رض
ده دَ صـدیـقؓ لـور ، دَ حـضـور ﷺ ده بـی بـی
مثـالـی یـی تـمـامـه ده دا زندګـی
پـه سیـرت سـره تـولـه صفا عـائشـهٔ رض
ښـهٔ اعـلا ښـهٔ بـالا پـه دُنیـا عـائشـهٔ رض
دا اُمُ الـمـؤمـنیـن خبـردار خبـردار
دا اُمُ الـمـتـقیـن خبـردار خبـردار
پـه ګفتـار ښـهٔ درنـه پـه وینـا عـائشـهٔ رض
ښـهٔ اعـلا ښـهٔ بـالا پـه دُنیـا عـائشـهٔ رض
نـقـل کـړی دی دوی احـادیـث دَ نبـی ﷺ
مثـالـی یـی دُنیـا کښـې دَ ربّ بـنـدګـی
دَ مـذهـب دَ اسـلام تـل ښُـکـلا عـائشـهٔ رض
ښـهٔ اعـلا ښـهٔ بـالا پـه دُنیـا عـائشـهٔ رض
دا قـرآن دي ګـواه دَ عـظـمـت تـل د دوی
دا قـرآن دي ګـواه دَ عـزت تـل د دوی
ده مـمتـازه هـر خـوا پـه ریښتیـا عـائشـهٔ رض

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښهٔ اعلا ښهٔ بالا په دُنیا عائشهؓ
دَ احمد په ژبه د دوی مدح و ثنا
ددوی مدح و ثنا کوی ټول اولیاء
خوښه ډیره زمونږ دَ آقا ﷺ عائشهؓ
ښهٔ اعلا ښهٔ بالا په دُنیا عائشهؓ

..................................................

# شان صحابیاتؓ

## .........منقبت حضرت عائشهؓ.........

## ..........منظوم کلام نمبر 99..........

ډیره لویه لری مرتبه مرتبه
په جهان په جهان عائشهؓ عائشهؓ
ده اُمّ المؤمنین شه له دي ښه خبر
ده اُمّ المؤمنین خبردار هر بشر
دَرسول ﷺ دَ نبی ﷺ حبیبه حبیبه
په جهان په جهان عائشهؓ عائشهؓ
کوروداني دَ چا؟ دَ نبی ﷺ دَ نبی ﷺ
کوروداني اعلا دَ نبی ﷺ دَ نبی ﷺ
صالحه صالحه ، صدیقه صدیقهؓ
په جهان په جهان عائشهؓ عائشهؓ
ښه خبر شه له دي، بندګی یی اعلا





ځان خبر کړۀ له دي، زندګی یی بالا
دَ ابوبکر لورؓ ، ښهٔ درنه ښهٔ درنه
په جهان په جهان عائشهؓ عائشهؓ
نیشته نیشته په کښې ده بیشکه اعلا
نیشته نیشته په کښې ده بیشکه بالا
دَ جهان خلقو کښې سیده سیده
په جهان په جهان عائشهؓ عائشهؓ
دَ پاکي دَ عظمت ګواه دَ رب کلام
دَ پاکي دَ عظمت ګواهان خاص او عام
په لقب طیبه ، طاهره طاهره
په جهان په جهان عائشهؓ عائشهؓ
منافق نه منی مرتبه بس د دوی
مؤمنان یی تمام په ادب یادوی
خوشبوداره لری تذکره تذکره
په جهان په جهان عائشهؓ عائشهؓ
خبرداره له دین له مذهب له اسلام
خبرداره پوره احمده ! له احکام
عالمه عالمه ، مفتیه مفتیه
په جهان په جهان عائشهؓ عائشهؓ

..................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شان صحابياتؓ

## ......... منقبت حضرت فاطمهؓ .........

## ........... منظوم کلام نمبر100 ...........

ډيره مينه ناکه ده ، غوره سيَده بی بی
وړه لور دَ پاك نبی ﷺ حضرت فاطمهؓ بی بی
كورودانې دَ علیؓ ، ښه خبر له دې نه يُو
ګرانه ده په پاك نبی ﷺ ، ښه خبر له دې نه يُو
لقب ئې خيرالنساء هم ده عابده بی بی
وړه لور دَ پاك نبی ﷺ حضرت فاطمهؓ بی بی
خور دَ قاسمؓ ، عبداللّٰهؓ مسلمان خبر په دې
دَ کلثومؓ هم خور ده دا مسلمان خبر په دې
دَ زينبؓ ده کشره خور ، خور دَ رُقيهؓ بی بی
وړه لور دَ پاك نبی ﷺ حضرت فاطمهؓ بی بی
مور دا دَ حسنؓ ، حسينؓ ، نه يُو مونږه ناخبر
دَ حضور ﷺ دَ زړهٔ سکون ، هر خواته په لراوبر
ياده په بتول سره ، پاکه ، ذکيه بی بی
وړه لور دَ پاك نبی ﷺ حضرت فاطمهؓ بی بی
سختو تکليفونو کښې ژوند ددوی تير شوې دے
تا نه ئې سيرت کله احمده ! هير شوې دے ؟
ښکلې دَ سيرت لری هر يوه فقره بی بی



وړه لور دَ پاك نبی ﷺ حضرت فاطمهؓ بی بی

.................................................

★★★★★★★★★★★

ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك انت التواب الرحيم تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبتوفيقه .....وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خير خلقه محمد وآله واصحابه اجمعين ومن تبعهم باحسان الیٰ يوم الدين .
اٰمين يارب العٰلمين 01 جنوری 2026ء

. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . .

............ وماتوفيقی الا باللّٰه العلی العظيم ..........
وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خير خلقه محمد وآله واصحابه اجمعين. ربّنا تقبّل منّا انّك انت السميع العليم.

| | | |
|---|---|---|
| ★ | دَ مولانا احمدعلی مردانی نور کتابونه | ★ |
| ★ | نظمونه ملغلرے....دَ ختمِ نبوت دَ عظمت دفاع په موضوع ليکلی شوی 150نظمونه | ★ |
| ★ | لفظونه ملغلرے....دَعظمتِ قرآن په موضوع ليکلی شوی100 نظمونهَ | ★ |
| ★ | سل 100نعتونه (نهمه نعتيه مجموعه) | ★ |
| ★ | دَ علم وادب خزانه.... منظوم شيږم علوم | ★ |
| ★ | پښتو منظومه آسانه قاعده | ★ |
| ناشر | بَيْتُ السّعْد يونيورسټی روډ مردان | ★ |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**